همبستگی غږ

د افغانستان د همبستگۍ ګوند خپرونه

۱۳

پښتو

منې او ژمی ۱۳۹۷

په فراه کې د خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو په یاد د «همبستگۍ ګوند» محفل | ۴۳ مخ

د ګوند موخې

- خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان.
- د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
- د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو پرګنو مساوی حقوق.
- د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
- د امریکایي او ناټو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

همبستګۍ غږ

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷

پدی ګڼه کی:

یواځې په مبارزې او سرښندنې سره کولای شو د نیواک، بنسټپالۍ او ارتجاع ککړتیا پاکه کړو! ۱

د سیک او هندو هیوادوالو پاکه وینه نه بخښو! ۳

د هندوباوره هیوادوالو ویرجن برخلیک په اړه د چوپتیا پیغور په مبارزې او ودریدنې سره پاک کړو! ۷

سلما د اشرف غني او ساتونکو د ننداري او خرمستۍ قرباني شوه! ۱۰

انجنیر سیدکمال خان، د افغانستان آزادی‌غوښتونکې او اتل بچی ۱۲

په کندز کی په سیستماتیک ډول د بنسټپالۍ او ناپوهۍ رواجول..... ۲۴

د دوو تنو شهید شوو خبریالانو د کورنۍ څخه لیدنه..... ۳۰

په ننګرهار کې، د واټونو په پر مخ رنځیدلی کارګران شپې سبا کوی!..... ۳۵

ګلبدین د امریکا په ملاتړ اذربایجان ته ترهګر لیږل ۳۹

په فراه کې د خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو په یاد د «همبستګۍ ګوند» محفل..... ۴۳

په کابل ښار کی د هیواد د خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو په ویاړ د شعارونو ځړول... ۴۶

د افغانستان د نیواک ادامه: د جګړې، بنسټپالۍ، جنایت او ... ادامه ۵۰

فوټبال ملی لوبډلې د انجونو په وړاندې د شورای‌نظاری کرام‌الدین کریم بی‌ناموسي..... ۵۳

یواځې په مبارزې او سربښندنې سره کولای شو د نیواک، بنسټپالۍ او ارتجاع ککړتیا پاکه کړو!

د خپلواکۍ په ۹۹یمه کلیزه کې یو، هغه خپلواکي چې د توریالیو خلکو، د افغانستان پرمختللو مشروطه‌غوښتونکو په وینو او د امان الله خان په مشرۍ لاسته راغله؛ هغه خپلواکي چې رامنځته کېدو لپاره یې شهید سرور واصف او د هغه ملګرو د «ترک مال و ترک جان» شعار ورکړ؛ هغه خپلواکي چې ښځو او د ناتار لاندی نورو قشرونه ته یې آزادي او لومړني حقونه ورپه برخه کړل؛ هغه خپلواکي چې د لومړي ځل لپاره یې د بریتانیا د مستعمرو یخ مات کړ او د نیواک څخه د خلاصون لاره یې د نورو هیوادونو پر مخ پرانیستله؛ هغه خپلواکي چې افغانستان یې د سیمې او په ځانګړې توګه د هندوستان ریښتینو انقلابیانو لپاره د امن په کور بدل کړ.

نن په داسې حال د لاسپوڅي دولت له مشرانو د خپلواکۍ‌غوښتنې خبرې اورو چې زمونږ بدمرغه افغانستان د امریکا نیواکګر دولت او په ناتو کې د هغه ملاتړو له لوري نیول شوی او د پاکستان، ایران، عربستان سعودی، روسیه او چین په څیر هیوادونو کرغېړن لاسونه هم پرنستي دي ترڅو زمونږ د هیوادوالو د وینو لښتي روان کړي. غني که څه هم د جان کېری په جادویی امسا په څوکۍ کېنول شو خو اوس ګورو چې د «دویم متفکر مغز» تر څنګ ځان ته «دویم شاه امان الله» هم وای او تالي‌څټي یې هغه ته «غني بابا» وای او د فیسبوک په پاڼو کې خپلو ستوني شلوي. خو څرګنده ده چې د هیڅ ډهل‌چي او سورنی‌چي آواز له هغه څخه اتل نشی جوړولی او د تاریخ محکمه به هغه د انګلیسی شاه شجاع، روسي ببرک کارمل او

امریکایی کرزي ترخنګ ډیران ته وغورځوي.

اشـرف غني د لاسـپوڅي دولت په اسـتازیتوب د غزني له سقوط څخه وروسته چېغې او بغـارې وهلـی، له یوې خوا وای چې غزني د هغو خلکو په لاس سـقوط شـو چې د هسـتوي توغندیو نومونه یی غزنویان ږدي، د طالبانو ټپیانو درملنه د پاکسـتان په روغتونونو کې کېږي، خو له بلې خوا یی خپله ځناور ګلبدین ته سـور فـرش اوارکـړ او لکه د ناوی په څیر یی دغه وینې‌څښـونکي تـه هرکلی وویلی چې د سیاسي زیږندې څخه راپدیخوا د آی‌ایس‌آی رنځیر په غاړه لری او د مرحوم ناسکه پلار، جنرال حمید ګل په وینا یی، یو «وطنپرسـته پاکسـتانی» دی. د افغانسـتان هر ولایت او سـیمه شـونی ده چې د پاکستان او یا بل هیواد په لاس سقوط شی او خلک یی له خاورو سـره خاورې شـي تر هغې چې د آی‌ایس‌آی او نورو څارګرو ادارو جاسوسان د لاسپوڅي دولت په سیسم کې پراته وي.

د امـان اللـه خان له عبرت څخـه ډکه خبره چی د افغانسـتان خپلواکۍ په نهم جشـن کی (۱۳۰۶ کال د زمري ۲۶مه) کړې وه، اوس هم صدق کوی او هغه باید د خپل ژوندانه سـرلیک وټاکو: «باید د خپلو اولادونو او د هغوی راتلونکی نسـلونو په زړونو کې د وطن‌دوسـتۍ او سربښندنې حس تولید کړو. ځکه کله چی له سره تیر شو هیڅکله خپلواکي زمونږ له لاسه نشی تللی.» یوازې په مبارزې، له ځان‌تیریدو او سربښـندنې سـره کولای شـو خپل ټپي هیواد د امریکایی نیواکګـرو او د هغه د بنسټپاله او غیر بنسټپاله اولادونو له ککړتیا څخه خلاص کړو. باید د تیر نسلونو څخه په الهام اخیستو وجنګیږو او د خپلواکۍ بیرغ راتلونکي نسل ته وسپارو.

نه اووم، نه اتم؛ اته‌ویشتم، اته‌ویشتم!

د افغانستان همبستګی ګوند

۱۳۹۷ کال د زمري ۲۸مه

لیکونکی: رحمت

د سیک او هندو هیوادوالو پاکه وینه نه بخښو!

د ۱۳۹۷ کال د چنګاښ په لسمه، ننګرهار ولایت ته د اشرف غني د سفر پر مهال، د ولایتي ادارې ودانۍ ته څیرمه په مخابراتو څلورلارې شاوخوا څلورنیمو بجو کې یو ځانمرګې برید د هغو اهل هنود او سیکانو هیوادوالو په منځ کې تر سره شو چې اشرف غني غوښتل له دوی سره د ولایت په مقام کې وګوري. د دې چاودنې په لړ کې ۱۹ کسان وژل شوی، چې ۱۷ تنه یې سیکان او اهل هنود دي. د شهیدانو سربیره شل کسان نور ټپیان شوي هم دي چې اته تنه یې سیکان او اهل هنود دي.

د همبستګۍ ګوند په استازیتوب خپلو دغو درددیدلو هیوادوالو سره د غمرازۍ له پاره مو وغوښتل چې ددوی د شهیدانو په جنازه کې ګډون وکړو خو د سختو امنتي تدابیرو له امله مو ونشو کړاي چې ځان درمسال سیمې ته ورسو. په سبا ورځ فاتحې لپاره ولاړو او ددغو معصومو هیوادوالو سره مو غمرازي وکړه او له هغوی څخه مو د پیښې د جزئیاتو په اړه وپوښتل.

دغه برید ډیر ځناوریز او زړه بوږنونکې وو چې په ترڅ کې د سیکانو او اهل هنود ډیرې مشران لکه اوتار سینګ چې راتلونکو پارلمانې ټاکنو ته نوماند و، نریندر سینګ، ایندر جیت سینګ، انوب سینګ، امریک سینګ چې د درمسال سرپرست و، میر سینګ، رویل سینګ، ستنام سینګ، منمیت سینګ، راجو سینګ چې د ځوانانو مشر و، بلجیت سینګ، ویکي کومار، ترنجیت سینګ، ستنام سینګ شهیدان شول او سربیره پر دې سنر سینګ، منجیت سینګ، ست پال سینګ، ګل میرت سینګ، مهندر سینګ، اقبال سینګ چې د درمسال امام و او تر اوسه په

ای.سی.او کې دی، اوتار سینګ ځوی او مهندر پال سینګ ټپیان دي.

د ټپیانو څخه یو تن چې منجیت سینګ نومیږی او میر سینګ ځوي دی داسې وای:

«موږ سره له یوې ورځې څخه مخکې ولسمشر ژمنه ایښودی وه چې له موږ سره به یوه لیدنه تر سره کړی او درې بجې یې د لیدنې وخت ایښودی وه نو په دی موخه سپین ږیری راټول شول او د ولایت په لور روان شول، کله چې د مخابراتو چوک ته ورسیدلو د ولسمشر ساتونکو چې د PPS په نامه یادیږی موږ یی ودرولو او راته یی وویل چې صبر وکړی تر څو موږ له دننه څخه لارښونه واخلو. نو موږ ورته وویل چې موږ پرون راغلی و او سهار هم راغلی وو او څلور بجی یی موږ سره د لیدنې وخت ټاکلې دی تاسی خپل لیست وګوری د دی له پاسه یی هم موږ ته وویل چې ودریږی. موږ پنځه دقیقی په تمه شولو له دی څخه وروسته زموږ د سر تا سری شورا مشر لاهور سینګ ښتکه شو ورته یی وویل چې موږ ته اجازه راکړی خو بیا یی هم خپله مخکینې خبره تکرار کړه له دی وروسته زه ښکته شوم او ومی ویل چې سپین ږیری را سره دی او ډیره ګرمی هم ده مخابره دی هم کړی ده موږ ته سم ځواب راکړی بیا یی وویل په تمه شی له دې خبرې سره سمه چاودنه تر سره شوله زما خپه لاس او ملا ژوبله شوه شا ته چې می وکتل زموږ ټول مشران په وینو لمبیدلی و په ۴۵ کلونو کې دا دویمه دردونکې پیښه وه چې زموږ د ټولو اهل هنودو کورنۍ یی په ویر کینولي دي. موږ د طالبانو سره دښمنی نلرو او سیکان یو بی طرفه قوم دی. او موږ امن او شانتی غواړو او دا هیله لرو چې افغانستان آباد او سوکاله شی ولس او عامه وګړی نور شهیدان نه شی.»

د دغې پیښې یول بل ټپي چې ګل میرات سینګ نومیږی په دغه چاودنه کې خپل یو ورور، پلار، کاکا او خسر له لاسه وکړی کله مې چې له دی سره خبری کولی په ژړا و او مری یی کلکه نښتې وه خبری یی نه شوی کولی ما هم خپله حوصله له لاس ورکړه او ځان می ټینګ نه کړی شو د بدن ویښتان می ودریدل. خو بیا مې هم کوښښ وګړ او هغه ته می ډاډ ګیرنه ورکوله ورو ورو یی په خبرو کولو پیل وکړ او داسی یی ویل:

«ډیر دردمن یم مرۍ مې غوټه ده د کورنۍ څلور تنو غړو خپل ژوند له لاسه ورکړی او یوازې زه پاتې شوم یو ځل وایم چې زه هم مړ وی خو کله چې خپلې پاتې کورنۍ ته ګورم بی سرپرسته ده نو بیا شکر کوم ښه ده

چې د دوی لپاره زه ژوندی پاتې یم تر څو د دوی لپاره د ژوند چوپړتیاوی برابری کړم. بیګا شپه د کور ټولی ښځې له ما سره ناستې وې او ټوله شپه تر سهاره یی له ما سره یوځای ژړل، دغه چاودنه له وخت څخه مخکې پلان شوی وه. زموږ له تګ څخه پرته له دولت بل څوک خبر نه وه. له چاودنې وروسته زه په روغتون په هوښ راغلم د خپلې کورنې خبر شوم او هلته مې داکټر ته وویل زما ټوله کورنې سوځیدلې ده نو ډاکټرانو خوشې کړم او کور ته راغلم کور کې مړي وکتل د ورور، پلار، تره او خسر مې ټوټې شوي وو او ټولـی کورنـۍ ژړل، حکومت خو یوازې خپل ځان ته کامیاب دی عوام تـه نه دی عوام هره ورځ وژل کیـږی انتحاری د کوم ځایه راغې حکومت دری ورځې امنیتی تدابیر نیولی و هلته کوم شی پر نه شو وهلی. زموږ ټول مشـران مړه شـول د کابل هم او ننګرهار هم ټول یتمان پاتې شو، په دغه پیښـه کې د ځانې تلفاتو سـربیره موږ ته مالي زیانونه هم اوختی دی څلور ګاړی مو له منځه تللی دی، خو مرال مو مات شـوی نه دی که ټول هم مړ کیږو دا خاوره نه پریږدو ځکه موږ د دی خاوری بچیان یو.»

په ریښتیا چې زموږ اهل هنود ورونه له ډیرو ننګونو او ناخوالو سره مخ دی. نه د دوی مـال پـه امن کې دی او نه ځان، د دوی ځمکـې او جایدادونه د زورواکو له خوا غصب شـوی دی او د ژوند سـطحه یی ډیره ټیټه ده، له دی سره سره نه دوی ته د ښوونې او روزنې په برخه کې او نه په روغتیایی، اقتصادی، سیاسی او فرهنګې برخو کې چوپړتیاوی شـتون لری او د خپلو لاسـونو په تنګاکو خپل ځان له پاره یوه مـړی ډوډۍ پیـدا کوی. د جنګ او جګړو په دوران کې د دوی په خویندو میندو او لورګان جنسـی تیری ترسـره شوی. خو دولت، طالبان او نور وسلوالې ډلې دوی لا تر اوسه هم په کراره نه پریږدي او د دوی په وژلو لاس پوری کوی.

زمونـږ دغـه زوریدلـی او کړیدیلی ورونـه که څه هـم د کلونو راهیسـې په ډیرو سـتونزمنو شـرایطو کې ژوند کـوی او د حنفي په څیر کرغیـړن اخوانیانو هغوی ته «ګاونډیـان» وای خـو بیا هـم دوی ډیر کلـک او ټینګ هوډ لـری او ځانونه ددې خـاورې اصلـی وارثـان ګڼي. پـه فاتحه کې یی د یو پوسـتر پر مخ چې د شـهیدانو انځورونه پکې ول دا شعر لیکلی وو:

چې یې مور وي زیږولی پدې خاوره　　که په هر ژبه ګویان وي خو افغان دی

یوه پروژه په څو نومونو! | کارتونیست: کارلوس لاتوف Carlos Latuff

د فاسد دولت او نیواکګرو تر تور سیوري لاندې ټاکنې!

اعلامي

د هندوباوره هیوادوالو ویرجن برخلیک په اړه د چوپتیا پیغور په مبارزې او ودریدنې سره پاک کړو!

یو ځل بیا د افغانستان سپیڅلي او نجیب لږه‌کي، سیکان او هندوان، په دردیدونکی توګه له خاور سره خاورې شول. د ۱۳۹۷ کال د جنګاښ په ۱۰مه په داسې حال کی چې د جلال‌آباد ښار د اشرف غني «تشریف راوړلو» لپاره د سختو امنتي تدابیرو لاندی و او آن هوټلونه له مسافرو خالی شول او پلورنځي په زوره تړل شوی ول، په یوه ځان‌وژونکي برید کی ۱۹ تنه چې ۱۷ یی زمونږ سیک او هندو وروڼه ول شهیدان شول او ۱۰ تنه نور ټپیان شول. دغه ځناوریزه ټول‌وژنه د ولایت مقام ته خیرمه ترسره شوه چې هغوی له لاسپوڅي جمهور رییس اشرف غنی سره لیدو ته په تمه ول چې درواغجنه ژمنه یی ورسره کړی وه ګواکی د هغوي هغه جایدادونه چې د سیمه‌یزو زورواکو او ټوپک‌سالارانو له لوري غصب شوی بیرته به یی ترینه واخلي. د عینی شاهدانو په وینا، د سیکانو مشرانو په کراتو د ننګرهار والی حیات الله له دفتر سره اړیکه نیولی وه او غوښتنه یی ترینه کړی وه چې هغوی ته دننه ورتګ لپاره اجازه ورکړي، خو سربیره پردې چې اشرف غنی په خپله وینا کی د لوړ امنیتي ګواښ څخه خبرې کولی، هغو په ساعتونو د سرک پر سر په تمه پاتې شول تر دې چې په بیرونکی توګه قرباني شول.

زمونږ سیک او هندو هیوادوال چې ددې خاورې اصلی اوسیدونکي دي تل یی آزادی او خپلواکی لپاره قربانی ورکړې ده، د کابل په ښار د اخواني تنظیمونو

یرغل سره، داسی خونړیو ناورینونو او ټول‌وژنو سره مخ شول چې د هیواد په تاریخ کی یی ساری نشته. تنظیمي ځناورو په ځانګړې توګه د کارته پروان او زوړ ښار په سیمو کې ځناوریز جنایتونه او خیانتونه یی د هیواد ددغه بی‌پناه لرکیو پر وړاندی ترسره کړل: د کافر او بی‌دین په نامه یې ترینه سرونه غوڅ کړل؛ جایداد او شتمني یی ورنه لوټ کړل؛ پر ښځو او نجونو یی تیری وکړ؛ سړي یی په زوره سنت کړل او سلګونه نور ځناورتوبونه چې زمونږ د تاریخ شرمناکې او کرغیړنې پاڼې جوړوي. طالبي ځناورو هم د نازنیانو په خیر د زیړو جامو اغوستل په هغوی وتپل او د هغوی پر وړاندې یی تنظیمي ناتار ته دوام ورکړ. دا ټول ددې لامل شو چې د هندوباوره زرګونو کورنیو څخه یوازی د ګوتو په شمیر کورنۍ پاتې او نور یې د مورنۍ ځمکې پریښودو ته اړ شول. اوس چې ۱۷ کاله په اصطلاح د لویدیځ خیراتی «دموکراتیک» حکومت څخه تیریږي، یوشمیر د تنظیمي باندونو مشران او په ځانګړی توګه شورای نظار ددغو هیوادوالو په نیول شویو کورونو کی اوسیږي کرزي او غني له دغو غدارانو سره په جوجاړی کی د هغې بیرته اخیستلو لپاره

هیڅ کوښښ ونکړ. ددوي ماشومان له ښوونې او روزنې بی‌برخې دي او له تبعیض او تعصب سره مخ دي چې زیاتره یی د خونو د نشتون له کبله په درمسال کی اوسیږي. د منځنیو پیړیو موجودات لکه احمد حنفیان چې په پارلمان کی دي، په اخواني سپین‌سترګتوب، هندو او سیک هیوادوال «ګاونډیان» بولي هغوی ته لومړني انساني حقونه هم نه مني.

زمونږ هندو او سیک وروڼه هم باید په تجربې سره دې پایلې ته رسیدلي وی چې فاسد او ملی‌ضد حکومت ته چې د هغوی د زامنو له وژونکو څخه جوړ شوی مراجعه کول او یا د غلو په پارلمان کی هغوی ته یوه څوکۍ ورکول هیڅکله هغوی لومړینو حقونو او غوښتنو ته نشي رسولی. یوازې په هغه ټولنه کې به چې د سیکولاریزم په اصل ولاړه وي د ټولو مذهبي لږکیو حقونه خوندي شي.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» خپل ژور خفګان د افغانستان هندوباورانو په شهادت کې څرګندوي او وایي چې د یوې ټولنې کړیدلو او رنځیدلو لږکیو څخه دفاع، دیموکراسۍ او عدالت او آزادۍ ته د یو کس او ډلې د ژمنتیا څرګندوی ده. له همدې کبله د هندو اوسیک هیوادوالو څخه پریکنده دفاع، باید د هر هغه بنسټ چې د آزادۍ‌غوښتنې او پرمختګ دعوی کوی، د دندو په سر کی ځای ولري، پرته له دې شعارونه یی درواغجن او غولونکي دي. مونږ د رایل سنګهـ، میرسنګهـ، اوتارسنګهـ، بلجیت سنګهـ، نریندرسنګهـ، ویکی کمار، امریک سنګهـ، انوف سنګهـ او د جلال‌آباد ناورین د نورو شهیدانو د وینې غچ خپله دنده ګڼو او د پاتې‌شونکو تر څنګ یی ولاړ یو.

د خپلو سیک او هندو شهیدانو پاکه وینه نه بخښو!

د افغانستان همبستګۍ ګوند

۱۳۹۷ کال د چنګاښ ۱۴مه

کابل

گزارشونه

سلما د اشرف غني او ساتونکو د نندارې او خرمستۍ قرباني شوه!

د ۱۳۹۷ کال د چنګاښ په ۱۱مه نیټه لغمان ولایت ته د اشرف غنی بدمرغه او سپیره سفر د سلما ژوند واخیست. سلما د سمیع الله لور چی ۱۳ کاله عمر یی د لغمان ښار تاجګرۍ کلي اوسیدونکې وه او هره ورځ به کورنۍ ته د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره د لغمان په ښار کی ماسته پلورل چی د غنی د موترکاروان په ځناوریزه توګه هغه د ټایر لاندې کړه او ددغې ګلالۍ ماشومه یی شهیده کړه.

که څه هم په ټولنیزو رسینو کی د سلما د شهادت خبر خپور شو خو د پیښې په اړه د کره معلوماتو او د هغې د کورنۍ سره د غمرازۍ لپاره د همبستګۍ ګوند په استازي‌توب د سلما کور ته ولاړو.

د سلما پلار چی د خپلې کوچنۍ لور غم ډیر ځپلی وو مونږ ته یی پیښه داسی تشریح کړه:

> «زمونږ اقتصادي وضعیت خراب دې زه هم کارکوم خو د کورنۍ اړتیا نشم پوره کولی نو له همدې کبله اړ وم چی هره ورځ سلما ښار ته د ماستو پلورلو لپاره ولیږم او زمونږ د کورنۍ دروند پیټي یوه برخه په خپلو نازکو اوږو اوخت کړي، خو د غنی د موټر کاروان یو تیز رفتاره ګاډي زه له خپلې لور خلاص کړم او هغه یی راته په ډیره بې رحمۍ شهیده کړه. کله چی د اشرف غنی ساتونکو زما لور شهیده کړه هغه ظالم جابر قاتل پرته له ویرې لکه چی کومه مرغۍ یی وژلي وی له لغمان ښار څخه ووت او ښاریانو زما لور روغتون ته وړې وه.»

پلار یی زیاتوی چی حکومتي چارواکو په هغوی فشار راوړ چی پیښه باید پټه

سمیع الله د سلما پلار

پاتي او د شهید سلما جسد باید ژر تر ژره کور ته یوسي.

د سلما ماما حاجی ګل وایي:

«مونږ ته یی وویل چی جسد کور ته یوسئ او خبره پټه کړئ ځکه هغوی زورواکي دي او ستاسو وس پرې نه رسیږي. مونږ ورته وویل چی اوس مازیګر ده او ګرمي هم ده، مونږ جسد کور ته نشو وړلای. له ډیرو ننواتو وروسته یی ومنله چی جسد د یوې شپې لپاره باید په یخه‌خونه کی پاتي شي.

هغوی رسنیو ته اجازه ورنکړه چی روغتون ته ننوځي او د والی ویاند ماته زنګ وواهه چی والی وایي څوک درنه خبر نشي. پر سبا یی ما دا خبر د فیس‌بوک له لاری خپور کړ او د والی ویاند بیا ځلی زنګ وواهه چی والی غواړي تاسره په ولایت کې وګوري. ما ونه منله، ورته می وویل چی زما لور شهیده شوې ده او ما کوم جرم نده کړی چی ستا خواته درشم.»

حاجی ګل وایی چی په سبا یی والي او ځنې نور حکومتي چارواکي د غمرازی لپاره زما د خورزې کورته راغلل او د پیښې پټولو او د کورنۍ د خولې بندولو لپاره یی د سلما پلار ته درې لکه افغانې ورکړې او همدا راز یی د یوې نمرې ځمکې او د شهیدانو د کتابچې ورکولو ژمنه وکړه خو تر ننه یی نده ورکړې.

د لغمان ښار یو تن ځوان چې نه غواړي نوم یی یاد شي وایي:

«اشرف غنی د یوماشوم د وژلو بیه یواځې دری لکه افغانی وټاکله، دا ډیر د شرم ځای دې. درې لکه نه چې درې میلیونه هم د هغې ګلالۍ ماشومې ژوند بیرته نشی ورکولی. تر سو چې د شهیدی سلما وژونکی په سزا ونه رسیږی دا به زورواکو وکیلانو او ټوپکیانو ته جرأت ورکړی چی لدی څخه ورسته هره ورځ زمونږ بیچاره ولس بی موجبه ووژني.»

د تاریخ له پاڼو څخه

انجنیر سیدکمال خان، د افغانستان آزادی‌غوښتونکې او اتل بچی

مخکـی مو هـم زموږ د خلکو سـتر بچیانـو څخه د سـیدکمال خـان پـه اړونـد مطلب او د هغه د محاکمی د لـړۍ ځینې برخـی راوړی دی. او دا یی د ویاړلی ژوند څخه ځنی نور ټکې:

د عبدالخالق د میړانی په اړه چې چوپړ نادر یی د تاریخ ډیران ته واسـتاوه ټول پوهیږی خو د سـیدکمال خان په اړوند چې د خالق څخه شـاوخوا څلور میاشـتی مخکې یی، د جلاد نادر ورور(محمد عزیز) په برلین کې د خپلو کړنو په سزا ورساوه، لږ ویل شوي دي. د سیدکمال څخه په الهام اخیستنی سره وه چې اتل عبدالخالق د دی په ویلو سره «چې شهید سیدکمال او محمد عظیم خان د مار لکې پرې کړه، دا مهال زما دنده ده تر څو خپله مار ووژنم» د غدارې کورنۍ یو لوړ پوړي چارواکي ژوند ته یی د پای ټکی کیښود.

سیدکمال خان د ۱۲۷۹ کال د وږی په ۲۷ نیټه (۱۹۰۰ کال د سپتامبر په ۱۸) په یوی بې‌وزلې کورنې کې چې د ټټاری دنده یی درلودله په کابل کې نړۍ ته سترګې وغړولی. د امان‌الله خان په دوران کې د یو شـمیر افغان محصلانو سره د انجنیرۍ پـه څانګـې کې زده‌کړی لپاره په ۱۹۲۲ کال کې آلمان تـه ولاړ او په ۱۹۲۷ کال کې د مګدیبـورګ د ښـار پوهنتون څخه فارغ شـو. افغانسـتان تـه د راګرځیدلو څخه وروسته یی د کابل یکه‌توت د سمنټو په کارخانه کی په کار پیل وکړ.

امیرالدین شنسب په آلمان کې د افغان محصلانو څخه یو تن و چې د سیدکمال ملګری او له هغه سـره یوځای اوسـیده او په خپل کتاب کې «د یو افغان د ژوند د اتیا کالو خاطرات»، ډیری پاڼی یی د سیدکمال سره د ګډ فعالیت ته ځانګړی کړی

۱۹۲۲: سیدکمال له یو شمیر افغان محصلانو سره چې د امانی په دوران کې آلمان ته استول شوي و.

دی، آلمان ته د سید کمال د بیاځلې لیږلو په اړوند داسی لیکي:

«امان‌الله خان اروپا ته د خپل سفر په وخت کې د کابل د یکه‌توت د سمنټو جوړولو فابریکه، جبل‌السراج نساجی فابریکه، د جلال‌آباد د قند جوړولو فابریکه او د دی ښار کاغذ جوړولو فابریکه چې په صندوقونو کې وسوځیدله له آلمان څخه په کریدت پیرلی وه.

حکومت د سمینټو جوړولو فابریکه وروسته له بسته بندي څخه د لرګیو په سکرو په کار واچوله ځکه چې د ډبروسکار نه وو او تر هغه دمه یی د کانونو کیندنه نه وه تر سره شوی. ځکه چې د لرګیو د سکرو کالوری بسنه نه کوله په لږ وخت کې دسمنټو فابریکه له کاره وغورځیدله او د هغې بټۍ خرابه شوی وه.

سردار عبدالعزیز خان، د نادرشاه ورور او د داوود خان پلار، چې په افغانستان کې د انګلیس سرښندونکو چوپړانو څخه و.

سیدکمال د خپل تحصیل بشپړولو څخه وروسته د سمنټو په برخه کې د حبیب‌الله له انقلاب څخه د مخه خپل هیواد ته تللی وه. حکومت هغه ته لارښونه وکړه چې د فابریکې معاینه وکړي او د هغې نقص او خرابوالی په اړوند د بیاځلی په کار اچولو راپور کې

شهید سیدکمال د یوی مودې لپاره د شاه‌امان‌الله خان مور او شهزاده عبیدالله سره یوځاي په برلین کې ژوند کاوه.

معلومـات ورکړی. هغه وروسـته له معاینې او مطالعـې څخه د فابریکی نواقص او خرابوالی په اړه ویلی و څرنګه چې په هیواد کې د ډبرو سکارو کان نه و کیندل شـوي او د لرګیو د سـکرو کالوری بسـنه نه کوله حکومت باید یو کس د ۶ میاشـتو لپاره آلمـان ته ولیږی چې نوموړی د هغه هیواد په ځنګلونو کې د سـکرو جوړونکو متخصصینو تر لارښـونې او سپارښتنې لاندی کار وکړی او هیواد ته راستون شی او د لرګیو سکاره له ډیری کالوری سـره په هیـواد کې جوړ کړی چې لـه هغې څخه د ډبروسـکرو پر ځای په فابریکه کې کار واخیستل شی.

حکومت لارښونه کړی وه چې هغه دی خپله دغه دنده ترسره کړی او له هغه یی څو سـوه منه د لرګیو سـکرو سره د لابراتواری تجربی او آزمایښت لپاره جرمنی ته ولیږه.

د ټولو لګښـتونو او کرایه او د سـفر لګښـت او شـپږ میاشـتی تنخوا لپاره هغه ته پنځ سـوه اسـترلنګ پونډ ورکول کیدل. سیدکمال د آلمان په ځنګلونو کې د ۶ میاشـتو په لړ کې د پروګرام پر بنسـټ د سـکرو جوړول زده‌کـړل او پاتـی ټول کارونه یی تر سـره کړل هیواد تـه د راګرځیدلو لپاره چمتو و.» («د یو افغان د ژوند د اتیا کالو خاطرات»، پاڼه ۱۰۲)

پـه ۱۹۲۹ کال کـې د امانـی دولـت په خـلاف د بلواګانـو پیل او پـه پایه کې د حبیب‌الله کلکانی له خوا د واک نیول، سـیدکمال د امیرالدین شنسب سره پریکړه وکړه چې افغانستان ته به ورګرځي او د امان‌الله خان تر څنګ د ارتجاع په وړاندي لاس په وسله پوری کړی. شنسب داسې لیکي:

«د هغـی پیښـې اړونـد {امانـی دولت نسـکوریدل} سـفیر صاحب

AFGHAN ENVOY ASSASSINATED

Brother of King Kahn Is Shot to Death in Berlin

Berlin, June 7—A brutal murder, tinged with the mysterious political intrigues of the East, shocked Berlin yesterday, when a youthful assassin shot and killed the Afghan minister to Germany, Sirdar Muhammed Azzis Khan.

The slain man, 55 years old, was the eldest brother of King Mohammed Nadir Khan of Afghanistan.

The assassin was identified as Kamal Siyd 33, an Afghan well known in diplomatic and socil circles in Berlin. The assassin charged the minister with infidelity to Afghanistan and cried:

"You sold out the fatherland to England."

important meetin noon at 2 o'clock fice. Miss Laura

THE PORTSMOUTH HERALD
PORTSMOUTH, N. H., WEDNESDAY, JUNE 7, 1933

A regular busine Legion Auxiliary w

HAMBASTAGI.ORG

«پورتسموت هیرالد» ورځپاڼه (۱۹۳۳ کال د جون په ۷): وژونکی سفیر له افغانستان سره په خیانت تورن کړ او چیغې یې وکړې: تاسو هیواد په انګریزانو پلورلی دی.»

{سیدقاسم خان، د آفغانستان سفیر په روم کې} د ملګری په توګه موږ ته وویل ښه ده تر څو چې قضیه موږ ته په ښه توګه روښانه شی د بیړۍ د ټکټ پیسی بیرته خپل جیب کې واچوی او د بیړۍ سفر نه لاس په سر شي. موږ دواړو د سفیر صاحب دوستانه نظر سره همغږی نه شو او ومو ویل په هیواد مین هر افغان باید په داسې حالاتو کې له هیواد سره اووسی او هر کار یی چې د اوضاع ښه‌والی لپاره د لاسه کیږی ورڅخه ډډه ونکړی.» (۵۳ پاڼه)

هغه دواړه د بیړۍ په وسیله بمبئی ته راغلل او له هغه ځایه کندهار ته راغلل او د کابل بیاځلی نیولو لپاره د غازی امان‌الله خان په جګړه کی، له هغه سره تر غزنی پوری ملګرتیا وکړه. خو له مقاومت څخه د امان‌الله خان په مخاړونی سره، سیدکمال او شنسب هند ته ولاړل او د امان‌الله خان کورنۍ لیږدونکی بیړۍ کې یې د بمبی څخه تر د مارسیز بندر پوری، سفر کوی. د شنسب په کتاب کې، پر غزنی د امان‌الله خان برید او په پایه کې آلمانه ته د هغوی دواړو له ستونزو څخه ډک او جالب سفر په تفصیلی ډول لیکل شوی دی.

سیدکمال د بریټانیا دولت او په افغانستان کې د هغوی له چوپړو څخه ډیره کرکه درلودله. نوموړی او د هغه همفکران ګواه ول چې د انګلیس په وړاندی د مبارزاتو په مورچلونو کې د زرګونو زړه‌ورو افغانانو سربښندنو او وینو ابره، د انګلس نیواک ته د نادر او د هغی کورنۍ او ملګرو په چوپړتیا سره بی‌ځایه ځي او هغه افغانستان چې په ختیځ کې د آزادۍ او خپلواکۍ په غوښتلو کې مخکښ وو یو ځل بیا د انګلیس د سپو او جاسوسانو په ځاله وګرځیده.

له هغه ځایه چې په آلمان کې، شنسب د زیمنس په شرکت کې یوه ښه دنده تر لاسه کوی، د سیدکمال ژوند چې له تنګ‌لاسی او ستونزو سره مخامخ وو هم برابروی. سیدکمال د یو وخت څخه وروسته د امان‌الله خان په بلنې روم ته ولاړ



The New York Times
Published: June 7, 1933

AFGHAN MINISTER IS SLAIN IN BERLIN

Brother of King Is Shot After Student Charges 'Delivery of Country to British.'

ASSASSIN 'READY TO DIE'

Relative of Envoy, Wounded by His Former Friend, Holds Attacker for the Police.

Wireless to THE NEW YORK TIMES.

BERLIN, June 6.—Sirdar Mo-

he was taken to a hospital.

A relative of the Minister, a 20-year-old student, Mohammed Atik Khan, who was with him, was shot in a shoulder, but is not in serious danger.

Admits Political Motive.

The assassin, who is Kemal Syed, an acquaintance of the Minister and a friend of Mohammed Atik, is a member of a group of Afghan youths who have been studying in Berlin at the expense of the Afghan Government. Kemal Syed was overpowered and turned over to the police. He said his motive was political, that he did not regret his deed, and that he was ready to die

He accused the Minister of treason and charged the royal diplomat had delivered his country to the British. Before the Minister could reply, Kemal Syed pulled out a revolver and, shouting "For freedom's sake!" began firing.

The first shot hit the Minister above the heart but he was able to run to the salon where he collapsed. The second shot grazed the shoulder of Mohammed Atik Khan, who seized the assassin. During the struggle three wild shots were fired. Attendants of the legation subdued the attacker.

Victim Formerly in Moscow.

Sirdar Mohammed Assis Khan was 56 years old. He had been in Berlin only two months. He was Minister to Moscow during the preceding two years. One of his sons is Afghan Minister to Rome.

Mohammed Atik Khan and Kemal Syed lived at the Afghan students' centre and Kemal Syed had been a frequent visitor to the legation.

«نیویارک تایمز» ورځپاڼې راپور په برلین کې د سیدکمال د کړنې په اړوند.

او د یو وخت لپاره له هغه سره او وروسته د امان‌الله خان مور سره یې په آلمان کې ژوند کاوه. مګر شنسب د دولت له خوا کابل ته راغوښتل شوی وو او د آفغان نساجی په شرکت کې په کار پیل کوي. هغه لیکي:

«په کابل کی ژوند په یو څیر تیریږی. د ملګرو سره هر مازیګر ډیرې وخت د میترسنګ په قهوه‌خانو کې وو یوه ورځ مې د سیدکمال لیک له برلین څخه تر لاسه کړ چې لیکلی یی وو یو اړین کار په مخ کې لری. خو په واضح او څرګنده توګه یی نه و لیکلی چې هغه اړین کار څه شی دی. دوه اونې وروسته په کابل کې د زیمنس استازی توماس... د برلین خبرونو قیچې شوی برخی راکړی چې په هغه کې د افغانی سفیر محمد عزیزخان وژنه په آلمان کې مفصله چاپ شوی وه چی وژونکی یی سیدکمال و.»



د محکمې په وړاندې د سیدکمال څرکندونو د ژباړې موندلو لپاره د پورتنې انځور په مخ کلیک وکړئ.

محمد عزیز د نادر ناسکه ورور او د سردار داوود پلار وه. نوموړی یو بی‌سواده کس وو خو د انګلیس نیواک سره د نادر وینې‌څښونکی رژیم په اړیکو ټینګولو کې

رغنده ونډه درلودله. محمدعزیز د امان‌الله د سلطنت په دوران کې په پاریس کې د افغان زده‌کړیالانو مسوول شو. د هغه زده‌کړیالانو سره چې د اشرافو او بډایا کورنیو سره یې اړیکه نه درلودله د هغه کبرجن او له تبعیض څخه ډک چلندونو، هغه له هیواد څخه بهر د زده‌کړیالانو په منځ کې په یو کرغیړن کس باندی بدل کړی وو. دغه کرکه هغه وخت خپلې لوړې کچې ته ورسیدله چې نوموړی د سزا ورکول او کوښه کیدلو په ځای، په ۱۹۳۲ کال کې په برلین د نادر خان د ځانګړی استازی په توګه وګمارل شو. د غبار په وینا، «هغه [محمد عزیز خان] په خپلو ویناو کې په ښکاره توګه له کورني زورواکۍ او انګلیس نیواک څخه پلوی کوله، او د پرمختګ، بدلون او انقلاب په ضد یې خبری کولی.» (دویم ټوک «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې»)

سیدکمال چې د نادر کورنۍ د هیوادپلورلو او د انګلیس نیواک ته د هیواد بیاځلی سپارلو څخه ځوریده، په دې لټه کې وو چې داسی یوه لاره پیدا کړی چې د انګلیس د واکمنۍ او د هغوی چوپړو څخه د خپل مخالفت ژورې کرکې ته په پراخه کچه آزانګه ورکړي او په هیواد کې د نادر شاه د زورواکۍ او مریتوب په وړاندی یو غورځنګ رامنځته شی. هغه د ۱۹۳۳ کال د جون په ۶ نیټه (۱۳۱۲ کال د غبرګولی په ۱۳) په برلین کې د افغانستان سفارت ته ننوت او په توفنچې سره یې د انګلیس جاسوس سردار عزیز خان عمر ته د پای ټکې کیښود. د دغه کړنې تفصیل د وروستی محاکمې په لاسوند کې «د آفغانستان همبستګې ګوند» په سایټ کې راغلی دی. سیدکمال پولیسو او قاضی ته د خپلو څرګندونو په لړ کې، خپله انګیزه په روښانه ډول وایی:

«ما نن ورځ خپلو هیلو ته د عمل جامه واغوستله. د هیوادپالنې حس زه دغه کار ته اړباستلم. هیله‌مند یم په دغه کار سره په افغانستان کې یو ملی حرکت د هغه کسانو په وړاندی چې آزادي یې وپلورله په لاره واچوم. زما د کړنی هیله به د افغانستان د ملت هیله وی...

اصلاح

اعدام سید کمال شقی

د نادری رژیم خپرندوی د سیدکمال له اعدام څخه یی هر کلی وکړاو د هغه خبر یی په شور او زوګ سره خپور کړ.

د سفیر وژلو فکر یو اوږ مهال لپاره زه له خپل ځان سره بوخت کړی وم، په ځانګړی توګه کله چې مې واوریدل چې برلین ته راغلی دی په جدی توګه مې پریکړه وکړه چې دغه انسان چې تل می د خپلواکۍ غوښتونکی غورځنګ او هیواد لپاره یو مضره او ګواښمن کس په توګه لیده، له منځه یوسم. راهڅونکې مې همدا و چې هغه مې آزادۍ ته د خاینانو له ټولګې څخه ګانه... دغه پلان زما په فکر کې نور هم پیاوړی شو نور مې شک نه درلود چې آزادی او د افغانانو ویاړ د اوسنیو رهبرانو له خوا پلورل شوي دي او دغه عقیده نه یوازې له ما سره وه بلکه د ټولو هغو کسانو سره چې په غړیدلو سترګو سره د هیواد خپلواکۍ په اړه فکر کوی رامنځته شوی ده.»

سیدکمال د دی لپاره چې د هغه ملګری د ځارنې لاندی ونه نیول شی په محکمه کې د دغی کړنی ټوله پړه په خپل سر واخیستله او وویل چې د یو کس سره می هم په دغه اړوند مشوره نه وه کړی. خو میر غلام محمد غبار «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» کتاب په دوهم ټوک کې لیکې چې سیدکمال د خپل یو «کابلی ملګری» سره (چې په خواشینې سره پیژندګلوی یی هیچکله ښکاره نه شوله) په ګډه یی دغه طرحه په لاره واچوله او ددی په سره چې کوم یو تن به د محمدعزیز کرغیړن ژوند ته د پای ټکې ږدی له یو بل سره شخړه کوله تر دی چې د سیدکمال په خپله وینا دغه ویاړ یی په نصیب کې شو.

لکه څرنګه چې سیدکمال تمه درلودله، کړنې یی په نړیوالو رسنیو کې په پراخه توګه آزانګه وموندله او له هغه څخه په نقل کولو سره لیکې چې د محمد عزیز د وژلو لامل دا و چې په افغانستان کې د انګلس نفوذ او زورواکی او سلطنتی ارتجاع په وړاندی پاڅون وشی. د پیښې څخه یوه ورځ وروسته The Portsmouth Herald ورځپاڼه لیکې چې: «وژونکی [سیدکمال خان] سفیر یی افغانستان سره د خیانت په کولو تورن کړ او په چیغو یی ویل: تاسو هیواد په انګلیس خرڅ کړ.» د Utrechtsch


THE RACINE JOURNAL-TIMES
RACINE, WIS., MONDAY AFTERNOON, JANUARY 14, 1935.

BERLIN—(U.P.)—Kemal Syed, 28-year-old Afghan, was executed in Ploetzensee prison today for the murder of Sirdar Mohammed Assis Khan, 56, elder brother of King Mohammed Nadir of Afghanistan and minister to Germany. Syed, who was one of a group of Afghans studying in Germany at the expense of his government, admitted his crime was political and expressed no regret.

BERLIN— (U.P.) —The Prussian government has confiscated a plot

Flood

(Cont

be made

the fund

to the

following

20 per

general a

HAMBASTAGI.ORG

د لویدیځ ورځپاڼو د سیدکمال اعدام په خبر کې لیکلی دی چې هغه تر وروستیو شیبو له خپلې کړنې څخه پښیمانې ونه ښودله.

په برلین کې د پلوتزینسی زندان، هغه ځای چې سیدکمال په کې اعدام شو.

Nieuwsblad خپروندوی د هالند چاپ (۱۹۳۳ کال په ۴۱ ګڼه) کې لیکي: «سیدکمال خان یی د هغه غورځنګ پلوی وګاڼه چې په افغانستان کې د واکمن رژیم له منځه وړلو په لټه کې دی او وایی چې د خپل هیواد سره د مینی درلودلو له امله یی په دغه کړنې لاس پوری کړ.»

سیدکمال د خپل کړنې پایلې په اړوند په بشپړه توګه خبر وو. لکه څرنګه چې «نیویارک تایمز» (د ۱۹۳۳ کال د جون په ۷) د خبرونو په سرټکو کې راوستل: «وژونکی مرګ ته چمتو دی» او د مطلب په ادامه کې د سیدکمال په وینا لیکې چې انګیزه یی سیاسی وه، او د خپلې کړنې څخه یی پښیمانې نه ده ښودلې او د خپل هیواد او فکر په لاره کې مرګ ته هم چمتو دی. سیدکمال رسنیو ته وویل چې په محمدعزیز باندی برید یی «د خپلواکۍ لپاره» و.

د Salt Lake Tribune ورځپاڼه د ۱۹۳۳ کال د جون په ۷ لیکې: «وژونکی د تیښتې لپاره هیڅ هڅه نه ده کړی. هغه پولیسو ته وویل: «آرامه اوسئ. زه نه تښتم ځکه چې په بشپړه توګه پوهیږم چې کوم کار می ترسره کړی دی او د هغه پایلو منلو ته چمتو یم. ما د خپل هیواد خپلواکۍ لپاره دغه کړنه تر سره کړه.»

سیدکمال خان د آلمان پولیسو له لوری څخه ونیول شو او «د آلمان نازی پولیسو» هغه د څیړنو لاندی ونیو. د افغانستان دولت پراخه هڅې وکړی چې د آلمان دولت دی ته اړ باسی تر څو سیدکمال کابل ته وسپاری، خو آلمان د افغانستان دولت په وړاندي شرطونه کیښودل چې په عملی توګه یی دغه امر ناشونی کاوه. د هغه لسګونو مکتوبونو پر بنسټ چې د افغانستان او آلمان بهرنیو چارو وزارتونو تر منځ تبادله شول او دغه وزارت ته د آلمان د سفیر له تلګرامونو څخه په څرګنده توګه پوهیدلی شو چې د ظاهر شاه دولت د سیدکمال د اعدام څخه پرته په کوم بل حکم باندي راضی نه و او ګوابښ یی کاوه چې پرته له دی څخه به یی له دغه هیواد سره اړیکې پرې شي. داکتر سیمکی، په کابل کې د آلمان سفیر

د آلمـان بهرنیـو چارو وزارت تـه په خپلو لیکونو کې ټینګار کوی چې د سیدکمال په اړوند باید د اعدام حکم ترسـره شـی کنه نو په افغانسـتان به د آلمان د پښـې ځای کمـزوری او د هغې تش ځای به فرانسـه ډک کړی.(۱)

غبـار د «افغانسـتان د تاریخ په اوږدو کـې» دویـم ټـوک کـې راوړی دی چـې سـیدکمال آلمانـی کوژدنـه د هرتا په نوم درلودلـه چـې د آلمانـی مدافـع وکیل په مرسته د سیدکمال د ژغورلو لپاره حقوقی لاره وموندله. مدافع وکیل له کمال څخه وغوښتل تر څو د وژنې انګیزه د سفیر سره شخصی دښمنی او بد اقتصادی وضعیت ښکاره کړی، خو سیدکمال خان د محاکمې په ورځ په واضح ډول اعلان کوی چې کړنـه یی سیاسـی او اګاهانه وه تر څـو په دغه ډول د انګلیـس واکمنۍ په وړاندی پاڅون وکړی.

سـیدکمال خان یو آزادخویه انسـان و چې په هیڅ ډول یی نه غوښـتل د ځان ژغورلو لپاره چانه ووهی. هغه چمتو نه و چې شخصی او اقتصادی بې‌ارزښته مسایل د ځان ژغورلو لپاره مخ ته راکاږی. هغه لوړی هیلې درلودلی چې د هغه لپاره مرګ ته هم چمتو و او هیڅ ځواک نه شو کولی د هغه مخه ونیسی.

ځینې اروپایی ورځپاڼې لیکې چې سید کمال د افغانستان دولت په لګښت سره پـه برلیـن کې زده‌کـړی کولی او کـه چیری د دولتې چارواکو سـره یی ښـه اړیکې درلودلې افغانسـتان ته د راګرځیدلو څخه وروسـته یی کولی شو په مناسب پوسټ کـې وګمارل شـي. خو دغه نه‌تسـلمېدونکی او بلواګـر مبارز چې واکمـن رژیم یې لاسپوڅی ګاڼه د یو شمیر اوسنیو خاینو او ځان‌پلورنکو روڼ‌آندو برعکس چې خپل عزت او وجدان د څوکۍ او لوړ ډالرې معاش لپاره پلوری، خپله دنده یی د نوموړی رژیم نسکورول بلله نه د هغوی په غوړه‌مال او چاپلوس باندی بدلیدل.

د افغانستان دولت یو تن له خپلو ښکارې سپو څخه د علی‌نواز خان ملتانی(۲) په نامه له بی‌شـمیرو پیسـو سـره برلین ته ولیږه تر څو یو برلاسې وکیل ونیسې او د سـیدکمال دوسـیه پر مخ یوسـئ. سـیدکمال له خپل ځان څخه خپله ننګه کوله آن تـر دی چـې امان‌الله خان په ایټالیا کـې وو او امکانات یی هم درلودل، د آلمان

د ۱۹۳۳ کال د جون په ۶: د آلمان پولیس په برلین کې د افغانستان سفارت په وړاندی د سردار عزیز د مړی د لیږدول په حال کې

بهرنیو چارو وزارت ته د لیک لیکلو څخه پرته، کومه د ستاینې وړ مرسته یې د اعدام څخه د هغه د خلاصون لپاره نه ده تر سره شوی. په پایه کې د هیواد دغه ریښتنې ځوي په مرګ باندې محکوم شو. د انګریزانو له جاسوسانو څخه الف خان چې په لومړې نړیوالې جګړه کې د بریتانوی هند د ځواکونو په لیکه کې د آلمان په وړاندې وجنګیده او وروسته له نیول کیدلو څخه د آلمان اوسېدونکې شو، د افغانستان دولت استازې په توګه د اعدام حکم ترسره کیدلو په وخت کې ګډون درلود. سیدکمال خان د خپلو سترګو پټولو څخه ډډه وکړه او په هسکه غړی او پرانیستو سترګو سره د ۱۹۳۵ کال د جنوری په ۱۵ نیټه د برلین په پلوتزینسی بندخونه کې اعدام شو.

د افغانستان دولت په دی بسنه ونه کړه د سیدکمال کورنې یې په کابل کې د ربړونو لاندې ونیوله او ټول یې له منځه یوړل. شسنب وایی:

«سیدکمال یوه زړه مور او یو ورور درلوده چې د خپل ماما په کور کې یې ژوند کاوه. د هغه ورور چې وړوکې و د بریښنا کاریګر و. د هغه مشر ماما د علی‌رضا خان کوڅې په خوله کې د وخت د ډوډۍ په نانوایی کې کار کاوه او بل ماما یې په حربې فابریکه کې یو تګړه وسله‌جوړونکې و نوموړی د تورې او برچو په جوړولو کې بی‌جوړې استاذ و.

هغوي یې ټول په زندان کې واچول چې په زندان کې یې ژوند له لاسه ورکړ. ورور یې وروسته له ۱۳ کالو څخه د بند څخه خوشی شوي وو خو په زندان کې یې تر هغه کچې سزا لیدله وه چې له ډیر کمزورې څخه یو څه وخت وروسته مړ شو او له سیدکمال څخه هیڅ څوک پاتې نه شو.» (پ۱۴۱)

د سربښندنې ځلیدونکې ستورې لکه سیدکمال، عظیم منشی‌زاده، عبدالخالق، محمود او د هیواد د لارې او خلکو نور ټول مبارز اتلان د هر عزتمند کس لپاره الهام دی چې د امریکا او د هغوي د سپو له مریتوب څخه د خپل ملت خلاصون او زمونږ په رنځیدلې او خیانت کړل شوی

هیواد کې د ډموکراسۍ او ټولنیز عدالت د جنډې اوچت رپولو په فکر کې دی او عمل پرې کوي.

یادابښتونه:

۱) د آلمان سفیر داکتر سیمکی په یو لیک کې د ۱۹۳۴ کال د سپتامبر په ۱۲ نیټه د آلمان بهرنیو چارو وزارت ته لیکي: «د اعدام سزا اوریدلو څخه وروسته، اعلیحضرت ظاهر شاه په خپل وروستي ملاقات کې ما ته وویل چې هیله‌مند دی چې د اعدام حکم هر څه ژر تر سره شي تر څو د آلمان او افغانستان تر منځ اړیکې دوستانه شي. او د دې ترڅنګ زما له زیارونو څخه یې په دغه برخه کې مننه وکړه او وې غوښتل د هغه درناوی مراتب یې برلین ته ورسوم په خپل ځواب کې هم له هغه څخه مننه وکړه.»

سفیر په بل لیک کې څرګندوي: «زه له افغانانو سره دوستانه اړیکې ټینګوم. موضوع تر هغې کچې ارزښتمنده ده چې د آلمان دولت باید په ځانګړې ډول په قضیه کې لاسوهنه وکړي ځکه چې د ټولو ګټې دا غوښتنه کوي.»

۲) د نادر خان په دربار کې د انګلس ګوډاګې الله نواز خان ملتانی او هاشم خان وو چې مهم پوستونو ته رسیدلې وه له هغې ټولګې څخه د برلین سفارت ته رسیدلې و. د طره‌بازخان، سیدشریف خان، عبدالغنی قلعه‌بیګی، میرزا محمد شاه خان، محمد نوروز خان او نور ترڅنګ، هغه د افغان مبارزانو د منځه تللو او وژل کیدلو لامل وه. غبار د «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» په دویم ټوک کې لیکي: «ربړونکو جلادانو د عبدالغنی خان قلعه‌بیګی او طره‌باز خان په وړاندې د شاه محمود خان او الله‌نواز هندوستانی په لارښونه د زندانیانو په ربړولو لاس پوری کاوه تر څو له دې لارې په نه تر سره شویو ګناهونو باندې اقرار وکړي.»



پر سیدکمال باندې د اعدام د حکم تر سره کیدلو لاسوندونه چې لا تر اوسه د پلوټزینسی زندان په آرشیف کې پراته دي چې د «همبستګی ګوند» د هغه یوه نسخه لاس ته راوړی ده.

ارتجاع واختناق ..... ۱۳۰ ..... کشته شدن برادر نادرشاه

ماسکو یافت. زیرا برادر دیگرش شاه ولیخان بسفارت لندن رفته بود تا
تماس دایمی باشد. همینکه فعالیت روشنفکران افغانی در اروپا شروع ش
آن، شاه ولیخان در پاریس، و محمد عزیزخان در برلین به سفارت منص
و ماسکو بدو نفر دیگر از وابسته گان خانوادهٔ شاهی احمد علیخان و
محمد عزیز خان در برلین باستثنای محمد زائی ها و هندیها
پیش گرفت. او در صحبتهای خود علناً از استبداد داخلی و است
ترقی و تحول و انقلاب سخن میزد. مشاورین او یکنفر محمد زائی
الاصل انور علیخان از زمرهٔ طلاب افغانی بودند که سردار را حفاظت و در امور
میکردند.

سید کمال خان و رفیقش فیصله کردند که آقای سفیر را علناً و روز روشن در سفارتخانه افغانی ترور کرده، آنگاه خودشانرا به پلیس جرمنی تسلیم، و در طی تحقیقات و محاکمه اظهار نمایند که اینعمل پروتستی از جانب افغانها ضد نفوذ دولت انگلیس در افغانستان است، زیرا دولت انگلیس توسط این خانوادهٔ حکمران و دست نشانده، نفوذ خودشانرا در افغانستان پهن کرده و کشور را بسوی تنزل و انحطاط کشانده میرود. باینترتیب شعار آنها در جراید اروپا نشر میگردید. بعد ازین فیصله بین سید کمال خان و دوستش در سر اجرای عمل مشاجره پیش شد، چونکه هر دو میگفتند ترور یک نفر بایستی بدست یکنفر انجام گیرد، نه بدست دو نفر. رفیق کابلی سید کمال خان اصرار میکرد که بایستی اینعمل را او انجام دهد، زیرا او مجرد بود در حالیکه سید کمال خان نامزدی داشت که نباید تنها گذاشته میشد. اما سید کمال خان داوطلبی رفیق خود را رد میکرد و میگفت: آیا نمیخواهی منهم در راه خدمت به افغانستان افتخار کوچکی داشته باشم؟ بالاخره فیصله کردند که حل این مشکل توسط قرعه انجام گیرد. اینست که در دوپارچه کاغذ نام هر دو نفر نوشته و کاغذ ها مخلوط روی میز انداخته شد. دست اولی که یکپارچه را برداشت و باز کرد و بخواند، دست سید کمال خان بود. اتفاقاً در پارچه نیز نام خودش بود. سید کمال خان با بشاشت روی رفیقش را برسم وداع بوسید، و تفنگچه موزر رفیق خود را برداشت.

فردا روز سه شنبه ۱۶ جوزای ـ ۱۳۱۱ شمسی مصادف با جون ۱۹۳۲ سید کمال خان در ((لیسنگ شتراسه)) مقابل دروازهٔ سفارتخانهٔ افغانی پیاده شد و زنگ دروازه بصدا در آمد. قابوچی جرمنی ((شولتس)) کارت او را گرفت و او در دهلیز بانتظار ماند البته مدت انتظار بطول کشید، زیرا برعکس سفرای دولت امانیه که با طلاب افغانی رویهٔ پدر فرزندی داشتند، اینک سفرای نادرشاه با طلبه و جوانان

HAMBASTAGI.ORG

«افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» په دویم ټوک د غبار د ژوندون یاد شرحه ورکوی چې څه ډول د سیدکمال او د هغه کابلی ملګرې په منځ کې، هغه دا وټاکل چې کار به پاې ته ورسوی. (د اعدام کال په تیروتنې سره ۱۹۳۲ لیکل شوی)

لیکونکی: سلسله

په کندز کی په سیستماتیک ډول د بنسټپالۍ او ناپوهۍ رواجول

د «سوړ جنګ» په لړ کی امریکا د برژینسکی «شین کمربند» خاینانه تیوری پلی کړه چې له هغې څخه یی موخه د کمونیزم او پرمختللو جریانونو او عناصرو کنټرول او له منځه وړل وو. افغانستان د دغه غیرانساني سیاست اصلي مړی وګرځیده چې د میلیونونو ډالر په پمپ کولو سره د جنایتکاره باندونو او د انسانیت دښمنانو لکه جهادیانو، طالبانو، القاعده او نورو په ځاله بدل شو، زمونږ هیواد یی د ویجاړۍ او ناپوهۍ او ډولاډول ناورینونو کندې ته وغورځاوه. نن امریکا دغه سیاست هو به هو په هماغه څیر د جهادیانو، طالبانو، داعش، حزب‌التحریر، جمعیت اصلاح او لسګونو نورو منځنیو پیړیو او خیانت‌کونکو جریانونو په ملاتړ سره پر مخ بیایی. ټول افغانستان او په ځانګړې توګه د منځنۍ اسیا سره ګاونډي ولایتونو په سیستماتیک ډول او د کړنلارې له مخې خطرناکه بنسټپاله ډلو ته ورکول کیږی چې د افغانستان شمال پولو کې د زهرو په پیچکاري کولو سره، خپل اصلي سیالان روسیه او چین راګیر او بی‌ځواکه کړي.

کندز په شمال کې چې د جګړه‌ځپلو ولایتونو څخه ده له بدمرغه اوسیدونکی یی د بیوزلۍ او بیکارۍ او زرګونو نورو ناخوالو تر څنګ د ځناورو بسټپالو شتون هم زغمي. په کندز کې د لسګونو مدرسو، کورسونو او بنسټپالۍ رواجولو فعالو مرکزونو څخه د بیلګې په توګه ځینې یې څیړم چې د ارتجاعی ماهیت ځینې حقیقتونه چې په خپلو سترګو مې لیدلي د «افغانستان همبستګی ګوند» سایټ له لوستونکو سره شریکوم.

په کندز کې واکمنه بیوزلي، جګړه او ځناورتوب ددې لامل شوی چې د

«تور کفن» او د منځنیو پیړیو فکرونه زمونږ ناتارځپلو ښځو ته د «اشرف المدارس» لاسته راوړني.

بنسټپالې ویروس د ودې لپاره ښه زمینه برابره شي چې د ځوانو نجونو او هلکانو د ذهنونو په ککړولو سره، له نیواکګرو او واکمن ملامافیایی رژیم څخه د خلکو کرکه او بیزاري له پرمختللی لوري څخه ارتجاعي او بیکارګی لوري ته چې د امریکا او لاسپوڅي دولت اصلي غوښتنه ده راکاږي.

«روضه‌الاطفال» د کندز په ښار کې د فعالو مدرسونه یوه ده چې له ۳۰ زیات ښوونکي او له ۱۰۰۰ زیات هلکان او نجونې زده‌کونکې لري چې د نه‌ننی نسل د ذهنونو په ککړولو بوخت ده. دغه مدرسه له هر زده‌کونکي څخه د میاشتې ۱۰۰ څخه تر ۲۵۰ افغانۍ میاشتنی فیس اخلي او د والي او ملي امنیت تر سیوري لاندې، ماشومان وسلو اخیستلو ته هڅوي له هغوی څخه انسان‌وژونکي او له انسانیت څخه نابلده عناصر رامنځته کوي. ددې مدرسې متعصبه ښوونکي چې کولای شو هغوی ته د ۲۱ پیړۍ «ملای لنګ» ووایو، زده‌کونکي ښوونځیو او ریاضي او انګلیسي کورسونو تګ څخه منع کوي، ښوونځی د شیطان کور بولي او ښوونکي ته کافر وایي.

«اشرف‌المدارس» چې د مولوی عبدالخالق او مفتی سراج‌الدین له لوري نږدې اته کاله وړاندي رامنځته شوه په کندز، تخار او بغلان کې د بنسټپالۍ او ترهګرې تبلیغ له سترو مدرسو څخه شمیرل کیږي. بی‌بی‌سی د ۲۰۱۴ کال فبروي په ۲۴مه ددغه مرکز له شتون څخه «د اسلامي سخت‌دریځو فکرونو رواجول» خبر ورکړ خو ددغو کلونو په لړکې نه یواځې دا چې د هغې پر وړاندې کوم اقدام ونشو بلکه هغې نور هم وسعت پیدا کړ او ګاونډیو ولایتو ته یې ریښې وغځولې.

په یوه دولتي ودانۍ کې د ناپوهۍ‌روزنې دغې مدرسې شتون ددې ښکارندوی ده چې ملامافیایی دولت چې بنسټپاله انسان‌وژونکو څخه جوړ ده د طالب او داعش روزونکو مدرسو تمویل کونکی او ملاتړی ده او په ترهګرۍ او ځناورتوب او تیاره کې د افغانستان ډوبولو لپاره د امریکا شیطاني سیاستونو پلی کونکی ده.

ددې مدرسې د نجونو مغزونه داسی وینځل شوی چې سم‌لاسی پر هغو کسانو چې ددوی په شان فکر نکوی د «کافر» ټاپه وهی او د نورو هر حرکت چې ددوی

«تبلیغي جماعت» د سیمې د څارګرو عواملو په څیر د دین تر سیوري لاندې، وژونکی طاعون ده چې د ټولنې بیوزله خلک ښکار کوي او د بیکارۍ او «خیال پرستی» هدیرې په لور یې بیایي.

په خوښه نه وي، «حرام» ګڼي. هغوی د تلویزیون لیدل، رادیو اوریدل، په ودونو کې ګډون، له تورو جامو پرته نورې اغوستل، د ګانې اغوستل، انځور اخیستل، د ښوونکي ورځ، د ښځې ورځ، د مور ورځ، نوي کال، د زوګړې ورځ لمانځل او له کور څخه د باندې د ښځو کار او رای ورکول او د ښځو نوماندیدل حرام ګڼي د ښوونځي زده‌کونکي او آن د دولتي مدرسو زده‌کونکو ته کافران وایی. له سړي څخه پوره پیروی کول، د پخلنځي په کنج کی کیناستل، بهر ته نه تلل او له سړي پرته نه پیرل نورو ښځو ته ورزده کوي. نجونې چی په دې مدرسه کې درس وایی د ناپوهه ښوونکو له لوري په داسې ځناوریزه توګه یی مازغه وینځل کیږي او داسې رنځورې او بریدګرې ترینه جوړیږي چی آن په کورونو کې له ټیکري څخه د مور او خور ویښتانو لیدل نشی زغملی او له هغوی سره جګړه کوي.

مبتذل او علم ضد کتابونه لکه د «قبر عذاب»، «د مرګ منظره» او «د جنت ګانې» ددې مدرسې درسي کتابونه دي چې د نجونو په روحیه یی (چی شمیر یی شپږ زره تنو ته رسیږي) ویرونکې اغیز کړی او له هغوي څخه یی ګرځنده مړي جوړ کړي دي. ددې مدرسې شډل مسوولان د وچو او پوځي قوانینو په تپلو او د نجونو په مازغو کی ارتجاعی زهرلرونکو باورونو په پیچکاري کولو سره هغوی یی داسې نامینده او ناهیلی کړي چی له ژوند څخه یی زړه شکیدلی او نورو ښځو لپاره د وژنې او ډار او ځناورتوب په تبلیغیانو بدلې شوی دي.

«تبلیغی جماعت مرکز» چی د کندز په ښار کې په ۲۰ جریبه ځکمه کی د هوایی ډګر خواته چی په دوه جریبه ځمکه کی پنځه پوړیزه ودانۍ جوړه شوی شتون لری. د ورځنیو کړنو تر څنګ، هر کال د درې ورځو لپاره د شمال له ۹ ولایتونو او ټول افغانستان او پاکستان څخه شاوخوا لس زره کسان دلته راټولیږي. هغوی د «دین تبلیغ» تر نوم لاندې د ټولنې بیوزله قشرونه ځان خواته راکش کاږي بیوزله

زیده الله عطیش په کندز کې د «نجم» مسوول په چل او ول د بنسټ پالې ویروس د بیګناه ماشومانو په مازغو کې پیچکاري کوي چې په راتلونکی کې د پردیو چوپړان او ملي ضد عناصر ترینه جوړ شي.

او ناورین ځپلي د «قناعت» او بیوزلی ژوند «خوندونو» ته رابللو ترڅنګ، هغوی هڅوي چې له سیاست څخه لیری اوسئ او د لسګونو خیانت کونکو او افراطي ډلو ترڅنګ د روان ناورین څخه د خلکو ذهنونو په منحرف کولو کې ویجاړونکې ونډه لري. دغو بویناکو جریانونو له دین څخه د خلکو ځپلو او ناپوهه ساتلو وسیله جوړه کړی خلک د ویجاړۍ او بدمرغۍ اصلی لامل څخه چې هماغه نیواکګر او د هغوی دیني او غیر دیني مریان دي لیری ساتي.

«د افغانستان مسلمانو ځوانانو بنسټ» یا «نجم» د جمعیت اصلاح څانګه، د سید قطب او محمد قطب (د اخوان‌المسلمین بنسټګران) استعماري فکرونو لارویان دي چې په څو ولسوالیو کې لکه امام صاحب او خان‌آباد په ګډون د کندز په ښار کې له شپږو کالو راپدیخوا پرته له کوم خنډ څخه د بیکاره ځوانانو په منځ کی سرتیریو جذبولو ته ادامه ورکوي.دغه بنسټ په ۱۳۹۰ کې رسماً له عدلي وزارت څخه د کار جواز ترلاسه کړ او په ۳۱ ولایتونو کې فعال ده او په بیلابیلو پلمو په ښوونځیو، پوهنتونونو، کورسونو، دولتي او غیر دولتي بنسټونو کې پراخ نفوذ لري. ولایتي دفتر یی د کندز ښار په «سلام» خصوصي پوهنتون کې ده چې ټولې کړنې او برنامې لکه «قیام لیل»، سپورتي سیالۍ نیول، د ودونو پروګرامونه نیول چې د موسیقي پر ځای پکې قران تلاوت کوي او تبلیغ کوي، د تکړه زده‌کونکو تقدیر برنامې، د سیرت سیالۍ نیول، د پوهنې سیالۍ (د بورسونو، لپ‌تاپ، یخچال او... جایزو سره)، د ښار پاکول (د خلکو جذبولو لپاره د بنسټ‌پالو نوی غولونکې لارې چارې) او ... له همدې پوهنتون څخه ترسره کیږي.

له تشکیلاتي پلوه د غړیتوب لپاره هر کس اړ ده چې درې پړاوه تیر کړي: خواخوږی کس باید لمړی همکار، دویم په کړنو کې ونډه او دریم له څیړنې او تایید وروسته د مسوول له لوري (چې رکن نومیږي) د غړي په توګه قبلیږي. له غړیتوب وروسته هغه ته دندې ورکول کیږي او که چیرې د دندو په ترسره کولو کې بریالی وو (دوه کاله وروسته) په کلنۍ غونډه کې چې «ارکان» نومیږي د «نجم» مشرۍ

لـه لوري د رکن پـه توګه ټاکل کيږي. د هغوی په وينا همکار، غړی او رکن اړ دي چې مياشـتې ۲۰۰ افغانې د غړيتوب حق ورکړي او په بيلابيلو لارو چارو له تجار او قومي مشرانو هم پيسې اخلي.

ټاکلې ده چې د «نجم» د پراخه او ډير لکښت‌لرونکو کړنو پيسې د غړيتوب حق په ورکولو سـره نه پوره کيږي او دا بنسـټ که هر څومره کوښښ وکړي خپله اړيکه له نړيوال اخوان، عربسـتان، ترکې، پاکسـتان دولتونو او د لويديځ او عربي څارګرو شـبکو سـره نشـي پټولی او نه د خلکو په سـترګو کې خاورې شـيندلی شـي. د هر سخت‌دريخه جريان چې بنسټ‌پاله ارتجاعي افکارو لرونکی وي بندګي يی امپرياليزم ته لکه لمر روښانه وي او د «غړيتوب‌حق» راټولول او نور چمونه د تمويل سرچينو پټولو لپاره وي چې يوازې څو تنه سـاده او له نړۍ بی‌خبره خلک پرې غولولی شـي نه هغه خلک او بنسټونه چې د بنسټپالۍ په کرغيړن ماهيت خبر دي.

د سـيد قطب او محمـد قطب لينکې چې د «جمعيت اصـلاح» له لوری درس ورکول کيږي د «نجم» د حلقو د ښـوونې مهمې سـرچينې دي په دې حلقو کې په څرګنـده توګه له داعش څخه پلـوي کيږي او هغه د هيواد خپلواکۍ او آزادۍ څخه «دفاع» چې دوی يی په ټولنيزو رسـنيو کې کوي د هغې خلاف په ښـوونيزو حوزو کې خپلو غړو ته «خلافت» (د امريکا او انګليس استخباراتي پروژه) خپله وروستۍ موخه اعلانوي.

زيدالله عطيش، په کندز کې د «نجم» رييس ده او خپلې راديويی برنامې د اصلاح راډيو له لارې خپروي چې له اسـلامي مسـايلو سره د خلکو بلدتيا تر نوم لاندې په هوښيارتيا اخواني‌توب تبليغوي او د خلکو په ناپوه کولو بوخت دی. دغه بنسټ چې په ټولنيزو شبکو او غونډو کې په غولونکي ډول د «وطن سره مينه»، «خپلواکۍ» او «سـولې» څخـه خبـرې کوي له سيکولايزم او ملي – دموکراتيک دولت سـره چې ددغـو ارزښـتونو د پايښـت وسـيله ده ليونـۍ دښـمني لـري او پـه سـيکولاري نظامونـو د کفـر ټاپـه وهي او سـيکولار کس کافر ګڼي. له دموکراتيک سـيکولاريزم سـره دغـه ګـډه دښـمني،

«اصلاح راډيو» په کندز کې د وچ مغزو بنسټ پالو په چوپړو کې وسله ده چې د «د ټولنې او فرد سمون» تر نامه لاندې د اوريدونکو په مازغو کې د اخوانيزم ارتجاع پمپ کوي.

دغو کرغیړنو، ښځو ضد او پردی پالو د ویرونکي بندخونې «اشرف المدارس» په جوړولو سره، د ښځو ذهنونه د بنسټ پالۍ په زهرو فلج کوي او له هغوی څخه یې ګرځنده مړي جوړ کړي دي.

«نجـم» له جهادي، طالبي او داعشـي ځنـاورو سـره پیونـد کوي او د ټولو لکۍ له امپریالیـزم سـره کلکه غوټه کوي.

که داعش او التحریر ګوند کړنې او سرتیرو نیول هم له پورتنیو ډلو سره یوځای کړو د مرداری، ورسته‌پاتې کیدو او بنسـټپالۍ ځناورتوب یو معجون لاسـته راځي چې د ناپوهۍ او خیانت تخم په روزلو او کرلو سره، د امریکا او ملاتړو له لوري یی د نیواک پایښـت او د ټولنې ویروسـي کولو سیاسـت ته زمونږ د خلکو پر وړاندې بڼه ورکول کیږي.

په ادارو کې پراخه فساد، له طالبانو سره مافیایی معاملې او د هیرویین‌سالارانو، زورواکانـو او تنظیمـي قومندانانـو واکمني د کندز د جګړې او سـقوط اصلي لامل شمیرل کیږي چې پایله به یی د کندز بیوزله او ویرې‌ځپلي خلکو ته بیا هم بیوزلي، بی‌کاري، تیښته، ډار، ځناورتوب او په زرګونو نو مصیبتونه وي.

که پخوا دینې درسونه وړیا او په جوماتونو کې په سنتي ډول ترسره کیدل، نن په سیستماتیکه توګه د مدرسو تر څنګ، د مرخیړي په څیر کورسونه هم راپیدا شوی چې د بنسـټپالۍ زهر د بیګناه ځوانانو په مازغو کې پیچکاري کوي. آن ویل کیږي چې دغه مذهبي ډلې د ښایسته نومونو لاندې، انجیوګانې لري چې له هغې لارې له یوایس‌اید او نورو بدنامه امپریالیسـتي بنسـټونو څخه غټ فنډونه د هغوی جوالونو ته لویږي او د امریکا او لویدیځ کټو په موخه استعمالیږي.

که پخوا د افغانو ښـځو ذهنونه تر دې کچې د بنسـټپالۍ په ویروس نه وو ککړ شـوي، د امریکا او لویدیځ له لوري د افغانسـتان نیواک د کلونو په لړ کې، کوښـښ کیـږي مخکـې له دې چې د ناتارځپلـې ټولنې دغې نیمې برخې قهـر راوپاریږي، د بنسـټپاله ځنـاورو له لـوري ځپل او منحـرف کیږي او خپل فکر د بنسـټپالۍ او نیواک پر وړاندې د بندي ښځو له خوځښټ څخه چې وړتیا یی لری آرامه کوي. له بده‌مرغه د بنسـټپاله غدارانو دغه سیاسـت په کندز کې په بریالیتوب پلي شوی او دغه ولایت یی د ناپوهۍ او بدمرغۍ په ټاټوبي بدل کړی.

گزارشونه

د دوو تنو شهید شوو خبریالانو د کورنۍ څخه لیدنه

د ۱۳۹۷ کال د غویي په ۱۰مه ځینې خبریالان د کابل په شش درک سیمې کې د شوي ځانمرګي برید خبري پوښښ ته تللي وه چې خپله د یو بل ځانمرګي برید ښکار شول، پدې پیښه کې چې نهه تنه شهیدان شوه د دوو تنو شهید شوو له کورنیو څخه مو لیدنه وکړه. شاه مری فیضي چې د خپلې کورنۍ یواځنی ډودۍ راوړونکی وه د کورنۍ څو تنه غړي یې د سختو رنځونو څخه ځوریږي، او محرم درانۍ هغه انجلۍ چې د ستونزو سربیره یې بیا هم د خبریالۍ دنده ترسره کوله، چې دا هم د کور یواځنۍ نفقه راوړنکې وه.

لومړی د محرم درانۍ کورنۍ ته لاړو، که څه هم د ناروغه پلار څخه مو د کور پته ترلاسه کړې وه خو نیم ساعت سرګردانه د تنګو کوڅو په منځ کې ګرځیدو، زاړه او پخواني ختین کورونه او د لرګیو دروازې خال خال تر سترګو کیدې. له هرې کوڅې چې تیریدو د محرم انځور مو په خیال کې ګرځیده چې یو وخت به لدې پخوانیو کورونو تیریده او د ستونزو سربیره یې بیا هم خپلو خلکو ته خبر رسونه کوله.

بالاخره د محرم ورور وپیژندلو، خپل کورته یې بوتلو، په کور کې یې محرم ته فرشته غږ کاوه. د محرم له پلار محمد شفیع سره کیناستو پرته لدې چې څه وپوښتو زړه یې له درده ډک وه تر یوه ساعته یې همدا جملې تکراروله:

«د شپې مې خپې درد کاوه فرشته راغله د زیتونو په تیلو یې زما خپې غوړې کړې، ویې ویل پلار جانه خپې دې سبا لمر ته ونیسه... په سبا مې لور لاړه بیا هیڅکله رانغله... لور مې شهیده شوه»

دا جملې يې پداسې حال کې ويلې چې لاسونه يې لړزيدل، ستونی يې ډک وه، سترګې له اوښکو ډکې وي، ومې نه غوښتل څه وپوښتم. رښتيا هيڅ څه مې ذهن ته نه راتلل اخر څه به مې ذهن ته راغلي وه؟؟ د دردیدلي سړي ژړغونې خبرو مې ذهن مشغول کړو، هره خبره او سوال بي روحه او بي معنا وه! له سر تر خپو مې د ارګ په خاينانو لعنت وايه چې د محرم د قاتلانو سره يې د اوربند ننګينه داغ هم په تندې لګيدلې وه. د ورور په ويلو سره کوښښ کوی چې دغه ځناور طالبان هم په واک کې شريک او زموږ ټول خلک يوځای هلاک کړي.

محمد شفيع د محرم درانی پلار

وروسته له شيبی هغی بيرته ادامه ورکړه:

«نه پوهيږم تر کله به داسې وي، د کرزي په وخت کې هم داسي وه اوس هم(موخه يې غني او عبدالله وه).... حالات ورځ تر بلې خرابيږي.

تاسې خو بهرنيانو راوستي ياستئ، ګوډاګيتوب کوئ. د هيڅ يوه زامن مو دلته نشته، تاسې د غريبو د احواله څه خبر ياستئ. تاسې زما پشان چې د فرشتې پلار يم غم نلرئ.

هم وايې موږ جهاد کړی، پردې جهاد مو لعنت شه ټول شيان مو له خاورو سره خاورې کړل د جهاد په نوم، اوس مو خپل باداران پر موږ واکمن کړل.

تاسو خلک د هيواد څخه تيښتې ته اړ کړل، د هيواد څخه مو کرکه ورته پيدا کړه، څه د ماهيانو خوراک شوه، ځينې په کانتينرونو کې مړه شول او ځينې هم په کيږديو کې اوسيږي.

يواځې تاسې څلور تنه ياستئ؟.... موږ مو له توپ، ټانک، الوتکې نه ډاريږو. موږ مو هيواد له لاسه نه ورکوو. موږ دلته يو. له خپلې خاورې مو ساتنه کوو.»

د راپور لیکلو په وخت کې مې پام شـوه چې د فرشـتې مور او خور زموږ خبرو ته د دروازې څخه اخوا غوږ دي، د فرشتې له پلار څخه مې وغوښتل چې موږ د خپلې میرمن خواته بوځئ. د فرشتې ځوریدلې مورکۍ د محرم په اړه وویل:

«محـرم ډیره هیواد پاله وه، د خلکو سـره یې مینـه درلوده، ویل به یې زه مې خپل سر د هیواد او خلکو څخه صدقه کوم، ویل یې زه مې د خپلو خلکو غږ اوچتوم، هغه د خپل نوم په څیر یوه پریښته وه»

ژړا نور دا ځوریدلې مورکۍ ته د خبرو وخت ورنکړو.

له هغه وروسته د شاه مري کور ته لاړو.

شـهید شـاه مری فیضي د فرانسـې اژانس انځور اخیسـتونکی، خبریال او فلم اخیسـتونکی وه. هغه دوه میرمنې او شـپږ اولادونه لرل. چې درې زامن او یوه لور یې د یوې میرمن څخه او دوه زامن چې رواني تکلیف هم لري د بلې میرمن څخه، مشـره میرمن یې د زړه رنځ لري. دعملیاتو او تداوۍ سـربیره اوس هم ښـه شوې نده.

منیر د شاه مری کوچنی ورور چې سترګې یې هم ضعیفې دي وویل:

منیر د شاه‌مری فیضی ورور

«ورور مې زموږ د پنځلس کسیزې کورنۍ یواځنـی سرپرسـت وه. د کورنیـو سـتونزو سـربیره یـې بیـا هـم قـوي اراده او غټ زړه درلـوده. هغـه د کور د لګښـت ترڅنګ زما د پوهنتـون مصارف هم راکـول، کـه څه هم اقتصادي سـتونزي مو ډیرې وې، خـو بیـا یې هم زموږ ټولې اړتیاووې تر خپلې وسـې ترسـره کولې او هیڅکله یې له موږ څخه خپلې مرستې ندي سپمولې.»

له منیر مې وپوښتل زموږ ددې ټولو بدبختیو لامل څوک دي؟؟ ویې ویل:

«د اوسـني وضعیت مسوول دولت دی. نه یواځې زما د ورور یا د یوه ډله افغانانو لپاره، بلکې د ټول افغانسـتان د خلکو په وړاندې. همدارنګه جهادي او تنظیمي رهبران چې د اسلامي دولت چیغې وهي او د حدیث او ایت په ویلو سره غواړي زموږ په سترګو کې خاورې واچوي. موږ د جهادي رهبرانو د واکمنۍ شـاهدان وه چې څرنګه یې زموږ وینې وبهولې، هغوی

زموږ په وینو قدرت ترلاسه کړی دوي جنایتکاران دي. دوي باید په ملي او بین المللي محکمه کې محاکمه شي. ترهغو چې جنایتکاران محاکمه نشي هیواد به مو د سولې او ارامۍ مخه ونه ویني»

له منیر مو وغوښتل تر څو موږ د شاه مري میرمن ته بوځي. هغه د شاه مري میرمن ته غږ کړو بیا یې یوې خونې ته وروغوښتو، میرمن یې زموږ د ننوتلو څخه اوښکې تویولې، د خونې یو کونج ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:

«هر کله به چې له دندې راوګرځید دلته به کیناسته، خپل اولادونه به یې په غیږ کې واخیستل مینه به یې ورکوله، د کور په کارونو کې به یې له موږ سره مرسته کوله. په هر ځانمرګي برید کې دولت ملامت دی. خپل اولادونه یې په بهر کې اوسیږي او خپله په هیڅ یو ځانمرګي نه وربرابریږي ځکه دوي پکې خپله لاس لري، اوس که ټول افغانستان موږ ته راکړي هیڅ درد مو نه دوا کوي، دا چې شاه مری نور نه اوسي»

د شاه مری فیضي ماما

د کور څخه د وتلو پرمهال د شاه مري ماما او مور چې دواړه له روغتونه راغلي وه مخ شوو. نږدې ورغلو ځان مو ور وپیژانده. ماما یې وویل د شاه مري له شهادت څخه وروسته یې د کورنۍ ستونزې زیاتې شوي، دوه زامن او درې ورونه یې ناروغان دي. مور او میرمن یې د زړه ناروغۍ لري.

د شاه مري مور چې ستونی یې ډک شوی وه له سترګو یې اوښکې بهیدې او په سختۍ سره یې خبرې کولې ډاډ مې ورکړو که څه چې پوهیدمه ډاډګیرنه مې کوم ځای نه نیسي، هغې وویل:

«خلک وایي صبر ولره. څنګه صبر ولرم؟ زوی مې د لاسه ورکړی. د زړه ټوټه مې د مرګ لایق نه وه. ۲۲ کال یې دنده او خدمت ترسره کړه، خو اوس د هغه ټوله کورنۍ بې سرپرسته پاتې ده. څه وکړم او چاته پناه

یوسم؟...»

نور یې ونشوه کړای خبرې وکړې، ژړا او ناروغۍ هغه خبرو ته پرې‌نښوده.

د شاه مری فیضی مور

هغوي د ۹۹ ٪ له پوهې او یووالي څخه ویره لري!

لیکونکی: رحمت‌الله زیارکښ

په ننګرهار کې، د واټونو په پر مخ رنځیدلی کارګران شپې سبا کوي!

د شپې لس بجې وی د یو چا له کور څخه را روان وم چې د مخابراتو له چوک څخه نیولی تر پښتونستان واټ پوری د سړک پر منځ ګلدانونو کی لسګونه ځوانان او سپین ږیری پراته ول. په لومړی لید کی می فکر وکړ چی د کابل پُل سوخته په څیر دلته هم په نشه‌یی توکو روږدي خلک راټول شوی خو چی لږ پام وی وکړ ومی لیدل چی دوی نه سګرټ لری او نه هم د یو څادر لاندی درې څلور کس راټول شوی. د یو تن خواته چی عمر یی هم پوخ وو ورنیږدې شوم او له روغبړ وروسته می ترې د نوم پوښتنه وکړه. نوم یی محاکم او د کنړ ولایت مرکز اوسیدونکی وو. پوښتنه می ترې وکړه چی دلته څه کوې، هغه وویل:

«په دی توره شپه کې د دې په تمه ناست یم چې یو څوک پیدا شی او ما مزدوی ته بوځی چې په دی تمه می دا دریمه ورځ ده. مزدوی هم داسی شی دی چې کله وی او کله نه وی. کوم کس چې راشی او یو دوه تنه مزدورانو یی په کار وی نو شاوخوا یی شل دیرش تنه چاپیر وی چې هریو دغه کارته ضرورت وی خو د قسمت خبره وی چې څوک یی له ځان سره بوتلل زه د کونړ څخه د کار موندلو لپاره راغلی یم. ښار وړوکی ده او کلی ناامنه دي. دلته هم مزدوری ډیره ټیټه وی کله څلور سوه پاکستانی کلدارې د ورځې راکوی او کله پنځه سوه، زما د کورنې د غړو شمیر دولس کسه دی نو په دی روپیو ګوزاره ګرانه ده. د نورو بچي ښوونځې ته ځې خو زه خپل بچي په خیټه ماړه ساتلی نه شم تل د خپل زړه غوښی خورم. الله دی دا دولت نسکور کړی، دوی ویل چې موږ به د خلکو دسترخوانونه ډکو

کړو خو دا یی ریښتیا ویلی وو د هغه چا دسترخوان یی ډک کړل چې د خلکو په وژنو او لوټلو کې لاس لری. خو خواره خواري زموږ ده چې زموږ نه یی یوه مړۍ ډوډۍ هم واخیسته. کور ته هم تللی نه شم ځکه ټول به په تمه وی چې پلار به می موږ ته د خوړو لپاره څه راوړی. خبر نه چې زما دریمه ورځ ده چې په دی روژه کې په دغه سړک کې شپه او ورځ تیروم.»

ما خپرونو او اخبارونو کی لوستی ول چی په ایران او هند کی خلک د واټونو په سر ویده کیږی خو دا لومړی ځل وو چی ما په خپلو سترګو ولیدل. داکارګران چې ډیری وخت بیکاره وی په همدی سړکونو کې شپې سبا کوی، په دی واټونو کې یی هم څوک په کرار نه پریږی او له ډولا ډول ننګونو سره مخ دي، ډیری وختونه په ولږه او تنده تیروی. پولیس هم دوی د خوب لپاره په کراره نه پریږدی یو خوا او بل خوا یی شړی. د دی کړیدلو کارګرانو په سترګو کې د دولت څخه ژوره کرکه لیدل کیږی هغه ځکه چې د دي په ځای چې دوی دپاره د کار کولو آسانتیاوی برابری کړی، دوی د سړکو پیاده‌لارو پر مخ خوب کولو ته هم نه پریږدی.

یو بل تن چې نوم یی سردار خان دی او د ګمبری د چهار باغ څخه مزدوری لپاره راغلی دی د خپل حالتو په اړه داسی وای:

«د ګمبیری په دښته کې په یوه خیمه کې اوسیږم او د کورنۍ شمیر می لس کسه دی زما یوازی په خپلو حالتو زړه نه سوزی شاوخوا ټولو مزدورانو باندی می زړه سوزی. کار هم په دویمه دریمه ورځ پیدا کیږی په کومو ورځو چې کار پیدا نه شی د دوکاندارانو سره په ډیرو لږو روپو کار کو چې د ورځې مزد ۲۰۰ یا ۳۰۰ سوه کلداری وی. خو کله چې د چا سره په دیاړی باندی لاړ شو د ۸ ساعته کار په ځای په موږ باندی ۹ او یا

لس ساعته کار کوی او دیاړی هماغه ۵۰۰ کلدارو څخه نه ډیریږی، ډیری وخت د ډوډۍ خوړلو لپاره روپی نه لرو نو د دوکاندارانو څخه چې څه پاتی شی موږ ته یی راکوی چې بیا په دغه پاتی شوی ډوډۍ خپل وخت تیرو د کور حالت می ډیر خراب دی د جلال آباد په دی ګرمۍ کې د خیمې لاندی ژوند تیرول ستونزمن دي په اوومه اتمه ورځ کور ته ځم هغه هم ځکه چې ګمبیري ته د تګ راتګ کرایه ۳۰۰ کالداری کیږی نو زه څنګه هره ورځ کور ته لاړ شم.»

د سردار خواته بل تن عبدالستار د لغمان اوسیدونکی ناست وو چی وای:

«د لغمان څخه په مزدورۍ پسی راغلی یم خو مزدوری ښتکه منډی وهی او زه پورته، دوه ورځې مزدوری وی او دری ورځې نه وی. ډیری شپې د سړکونو په سر پاتې کیږو مزدوی ته مو څوک نه بوځی. سپین ږیری یم په دی خاطر می هم څوک کار ته نه بیای چې کار نه شی کولی خو دوی زما د کورنې له ستونزو څخه خبر نه دی اته کسیزه کورنۍ لرم هغوی رانه ډوډۍ غواړی، چې مزدوری ونه کړم نو څه وکړم همیشه کار پیدا کولو لپاره سترګې په لاره یم خو ډیر وختونه نه وی. ډیرې لږی روپې کټم او خپل کور پرې چلوم او په دی باندی ویاړم ځکه چې د چا حق می نه دی خوړی، نه د زورواکو، قومندانانو او وکیلانو په څیر د چا په وژلو او ترور باندی مې روپۍ نه دی پیدا کړی. نو له دې کبله د خپل ضمیر په وړاندی ملامت نه یم.»

د کارګرانو څخه یو تن نقیب الله چې د خپل ژوند څخه ډیر ناهیلی دی داسې وایی:

« په درونټه کې اوسیږم پخوا په یوه مووسسه کې ساتونکی وم خو هغه مووسسه ختمه شو او اوس مزدوری کوم د شپې تر دې وخته دې ته ناست یم چې خپلو بچو ته یو مړۍ رزق پیدا کړم. په اونۍ کې په ټیله باندی دوه یا دری ځله کار ته ځو او دا غټه تور ده چې څوک دوه ځله په اونۍ کې کار ته لاړ شی.

اشرف‌غني د بريا څخه مخکې ډېرې ډوزې وشتلې چې زه په د غريبو لپاره به دا کوم او هغه به کوم، کار به خلکو ته پيدا کوم خو ټول درواغ وو. زموږ ژوند ورځ تر بلې خرابېږي او اوس هم دوې د ملت په سترګو کې خاورې شيندې او بيا ټاکنې کوي. په ټاکنو کې به هغه څوک بريا تر لاس کوي چې د نورو څخه يې لاس وژلو،غلا او لوټ کې اوږد وي. ډېر مې زړه خپه دی هغه له دې امله چې کله به د دی بدمرغيو څخه خلاصون مومو. د خلکو زامن مکتب ته ځي د غريب بچې به څه تعليم وکړي زما بچې هم له ما څخه ډېر لالهانده دی يوازې د هغوی له سترګو ځان پټوم په دی هم پوهيږم چې کار نه شته خپل بچې وږی ليدلی نه شم نو يوازې د هغوی له مخې مې ځان پناه کړی او په دی واټونو کې شپې او ورځې تيروم.»

د کارګرانو له وير او درد نه ډکې کيسې ډېرې وی. هر يو غوښتل د خپل زړه بړاس وباسی، په وار وار يې پر دولت او خاينو چارواکو لعنت ويلو. او ددې کارګرانو د کيسو اوريدلو وروسته دا خبره مې په ايمان بدله شوه چې خاين او لاسپوڅي چارواکی د ولس په غم کی نه دي. هغو د پرديو چوپړان دی او يواځينۍ هڅه يې داده چې بهرنيو يرغلګرو ته د هيواد د لوټ او تالان لاره هواره کړي. ددې خاينو هره ژمنه د درواغ او غولونکی ده. تر هغې چې بهرني يرغلګر له هيواد څخه بيرون او ټول هيوادپلورونکی او جنايتکاران او خاينان د ولس په محکمه کی محاکمه نشی او يو ملی دموکراتيک دولت رامنځته نشی زمونږ ټولو حالت به ورځ تر بلې د خرابۍ په لور روان وي.

لیکونکی: احمر

ګلبدین د امریکا په ملاتړ اذربایجان ته ترهګر لیږل

د ۱۹۸۸-۱۹۹۴ کلونو ترمنځ د قره باغ علیا سیمې پر سر د اذربایجان او ارمنستان جګړه ونښته. اذربایجان د متحده ایالاتو، ترکیې، ایران او پاکستان څخه مرسته وغوښته، ارمنستان هم ځان روسیې پورې ونښلوه. دغه جګړه امریکا لپاره یوه پلمه شوه ترڅو ددې هیواد د نفتو په لویو زیرمو ولکه ومومي او ترڅنګ یې هلته روسیې ته ترهګر هم ولیږي. همدا وه چې د اذربایجان دولت د ۳۵ میلیارده ډالرو په اندازه د خپلو نفتو قراردادونه له ۸ غربي کمپنیو سره لاسلیک کړل او د ترهګرو لار یې قفقاز ته پرانیسته.

د ۱۹۹۳ کال د نومبر په ۱۳مه کرسشین ساینس مانیتور ورځپاڼې یو راپور خپور کړو.

> د قره باغ علیا غرنۍ سیمې امنیتي چارواکو چې د ارمني سرتیرو قومي دفاعي مورچل وه. د کرسشین ساینس ورځپاڼې ته ځینې توکې وښودل چې لاندې مواد پکې شامل وه. په افغانستان کې چاپ شوې اسلامي لیکنې، کتابچې، د پوځي تشکیلاتو جدول، د افغانستان او پاکستان په نښې لیکل شوي خصوصي لیکونه، او د افغان جګړه مارو انځورونه وه. »

او په بله برخه کی زیاتوي

> د غربي ورځپاڼو د راپورونو په اساس د اګست میاشتې په نیمایي کې د اذربایجان د داخلې وزارت مرستیال روشن جوادوف افغانستان ته یو پټ سفر وکړ او هلته یې د حزب اسلامي په نوم د یوې بنسټپاله ګوند له مشر ګلبدین حکمتیار سره ولیدل. په ایران کې میشت بهرني دیپلوماتان

پدې باور وه چې دغه جګړه‌کوونکي د حکمتیار د ډلې سره اړه لري.
د ۱۹۹۴ م کال د مـی پـه ۲۳مـه پاکسـتانی ورځپاڼې (دی مسـلم) د حکمتیار اذربایجان ته سرتیري لیږي تر عنوان لاندې نور ډیر رازونه افشا کړل.

پیښور: حزب اسلامي(د ګلبدین ډله) اذربایحان ته جګړه کونکي لیږي.
ویل کیږي چې ۵۰۰ تنه ځوانان د باکو په لور وخوځیدل.
«دغه ګمارنه په پیښـور کې زیاتـه برخه د قومندان فضل الحق مجاهد تر امر لاندې د دندې د اجرا لپاره وګمارل.

د جـان. کـی. کولی په قلم لیکل شـوي کتاب (نا مقدسـه جګړې- افغانسـتان امریکا او نړیواله ترهګري) کې وایي.

د افغان جګړه مارانو مستقیمه اغیزه په قره باغ علیا او تاجکستان کې ولیدل شـوه. ۱۹۹۳ کال په ورستیو کې ګلبدین د سی‌آی‌ای او آی‌ایس‌آی پخوانی ملګری افغان جګړه کوونکي په کرایه نیول تر څو د ارمنسـتان او د روسي پوځیانو سره وجنګیږي. دغه جګړه کوونکو ته د ورځې څه کم یو ډالر ورکول کیده چې د میاشـتې لس تر شـلو ډالرو کیدل. همدارنګه هر یو ته ژمنه ورکول شـوی وه چې د جګړې د پای ته رسـیدو وروسـته به هر یو ته ۵۰۰۰ ډالر ورکړل شـي. حیدر علی اف د اذربایجان کمونیسـت ګوند مشـر، پخوانی ولسمشر او د اوسني ولسمشر پلار ومنله چې د اذربایجان د خلکـو د مرسـتې صندوق له لارې به هغو جهـادي افغانانو ته چې اوس ورته په پاکستان کې اړتیا نشته کولای شي اوس د پیسو په بدل کې ارمني عیسویانو سره وجنګیږي. حکمتیار چې د ۱۹۹۱ م کال د خلیج په جګړه کې د صدام حسـین ملاتړ یې کړی وه د عربسـتان پخوانی مالي ملاتړ له لاسه ورکړی وه. او په ظاهره یې د اسامه څخه پیسې نشوې ترلاسه کولای. د همدې لپاره پیسو ته یې ډیره اړتیا وه، ددې لارې څخه هغه کولای شو د خپل اسلامي انقلاب د بریالیتوب نقشه مخکې یوسي. او لږ اندازه پیسې ترلاسـه کړي. د هغه شـخص پیژندپاڼه چې د حکمتیار پواسطه اذربایجان ته لیږل شوی و.

د روسـې د بهرني څارګر سـازمان د راپور په اسـاس د ۱۹۹۳م کال له سـپتامبر راپدیخوا ۱۵۰۰ تنه افغان اجیـر جګړه کوونکي د اذربایجان خاورې ته دننه شـوي. د ۱۹۹۴ کال په پسـرلي کې یې شـمیر ۲۵۰۰ تنو ته ورسـید چې د جنوب په جبهه کې پولې ته څیرمه میشـت وو. د ارمني سرتیرو سره تر درنو جګړو وروسته او د تلفاتو په اوړیدو سره افغاني اذری

غند منحل شـوه. پاتې جګړه کوونکو ترهګریزو او ورانـکارو بریدونو ته لاس واچوه. (جان. کی. کولي.«جنګ‌های نامقدس- افغانسـتان، امریکا و تروریزم بین المللی» فصل روسیه» صفحه۱۸۰، انګلیسي)

ددې ترخنګ معتبرو لیکنو د حزب وحدت او دوسـتمي ملیشـو د شتون په اړه هم ویلي وه خو مشري یې بیا د حزب اسلامي په لاس کې وه.

«ګلوبل ریسـرچ» په خپله یوه مقاله کې د «یاداشت های اذربایجان» کتاب په حواله چې د ریچارد سیکورد لخوا لیکل شوی لیکي.

پـه اذربایجـان او پخوانـي شـوروي اتحاد کـې همدغه عـرب افغان مجاهدینو(هغه عربان چې د افغانسـتان پـه جهاد کې یې ګډون کړی وه) کـې متحـده ایالات د نفتـو زیرمو ته ورسـول. پـه ۱۹۹۱- ۹۲ کلونو کې ریچـارد سـیکورد، هیني ادیـر هلوت، او اید دیر بـورن درې تنه د متحده ایالاتو عملیاتي سـرتیري په لائوس او ایران کنترا کې د میګا ایل شـرکت د کارکوونکو تر پوښـښ لاندې په باکو کې اوسـیدنه پیل کړه. یاد شـرکت هیڅکله هم نفتو ته لاسرسـی ونه مونده خو په مادي ډول سـره یې وکولای شو چې د روسې غلبه پرې پای ته ورسوي.

د میګا شرکت عملیاتي مامورین هر یو سیکورد، ادیر هلوت، دیر بورن او مردان شان په پوځي زده کړو کې دخیل وه او د پیسو څخه ډکې قهوه‌ای خلطـې به یـې د دولت غړو ته ورکولې. ترتولو مهمه دا چې د باءسـان(ایر امریـکا) پـه نوم یـې هوایي خط جوړ کـړو چې په لږ وخت کـې د افغان مجاهدینو په څیر سلګونه تنه اجیر سرتیري له افغانستانه دلته راولیږدول.

مایکل تارنبي یوه څیړنهد «مجاهدین در قره باغ علیا- مطالعه موردی پیرامون ارزیابی جهاد جهانی» تر نوم لاندې کړې چې دغه ټکي یې د جزیاتو سره پرې بحث کړی. پدې څیړنه کې ویل شـوې وه چې افغان جنګیالیو او اذري کوماندو سـرتیرو تـه یوه ډله پخواني امریکایي سـرتیري روزنه ورکوي، افغـان جنګیالیو ته له اذري سـرتیرو جلا روزنه ورکول کیږي او د افغان جنګیالیو مسـوولیت د وحیدالله نومي په غاړه وه.

د ارمنسـتان او اذربایجـان تـر جګړو وروسـته افغـان او عـرب جنګیالیو چې د افغاني غند په نوم مشـهور وه ترهګریزو پیښـو ته یې مخه کـړه چې موږ یې بیلګې د ارمنسـتان، اذربایجان، چیچنیا، بوسـنیا او هرزګونیا کې لیدلی شو. نن ورځ هم چـې امریـکا همغه ترهګر او بنسـټپاله د داعش تر بیرغ لاندې عراق او سـوریې ته راوزیـږول، یـو د هغه تیارو سـیمو څخه چې پـه عمده ډول پکې بنسـټپالنه تغذیه

کیږي قفقاز وه. هغه ترهګر چې یو وخت په افغانستان کې د ګلبدین، سیاف، رباني او نـورو رټل‌شـوو څیرو تر مشـرۍ لاندې یې پنسـټپالنې پراختیا پیـدا کړه او نورو سیمو ته ولیږدول شوه.



بسم الله الرحمن الرحیم

وتجاهدون في سبیل الله باموالکم وانفسکم ذالکم خیر الکم ان کنتم تعلمون .

۱۵ نمایندگی اصفهان

حزب اسلامی افغانستان

ستاد اعزام سپاه مجاهدین اسلام بخارج از کشور

نمایندگی ایران - استان (اصفهان)

۱۳۷۳/۳/۲۶

فرم هویت وشهرت مکمله

نام	[redacted]
نام پدر	[redacted]
نام پدرکلان	محمد حسین خان
شماره کارت هویت حزب اسلامی	۱۴/۱۷۵
درجه تحصیل	معلم فارغ التحصیل فاکلته تنگانیش کابل پوهنتون
ولایت	ننگرهار یا جلال آباد
شغل قبلی	معلم در لیسه سید جمال الدین افغان
شغل فعلی	مجاهد (سپاه)
حالت مدنی	متاهل
تعداد خانواده	۱۳ نفر
تاریخ ارتباط باحزب اسلامی	۱۳۵۷ هـ ش
تاریخ هجرت	۱۳۶۰ هـ ش
سابقه جهادی	۱۳ سال
ضامن	قوماندان سیف الله خان
آدرس در ایران	شیراز سرقالین شوئی
آدرس در افغانستان	ولسوالی کوز کنر خیوه

تعهد نامه

اینجانب [redacted]

تعهد می نمایم که خودم قطور دور کلبانه به جهاد آذربایجان حاضرم و در این راه صادق و وفادار میباشم اگر زخمی و یا شهید شدم بدون خودم به کسی دیگر مسئولیت نیست با احترام

امضاء و نشان انگشت

HAMBASTAGI.ORG

د هغه شخص ژمن‌لیک چی د حزب اسلامی په واسطه آذربایجان ته لیږل شوی وو.

گزارشونه

په فراه کې د خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو په یاد د «همبستګۍ ګوند» محفل

۱۳۹۷ کال د زمري ۲۶مه: «د افغانستان همبستګۍ ګوند – فراه» د افغانستان خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو کلیزې څخه لمانځنه وکړه چې د فراه ولایت له مختلفو سیمو ګڼو خلکو پکې ګډون کړی وو. محفل په دې سریزې سره پیل شو: په داسې حال د هیواد خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو کلیزه لمانځو چې مورنی ټاټوبی مو د امریکا او د هغې د ملاتړو ترکرغیړن سیوري او بنسټپالو او غیر بنسټپالو ځناورو تر ولکې لاندې له ټپونو رنځیږي. هغه وطن چې هره ورځ ویجاړیږي او ناامنۍ او بدمرغۍ او در په دری د هغې وګړي له تور برخلیک سره مخ کړي او بی‌دفاع خلک یې ګیډۍ ګیډۍ په چاودنو، هوایی بریدونو، جګړو او ټول‌وژنو کی له لاسه ورکوی؛ ښځې او ماشومان یې د جنسي تیري او لسګونو نورو جنایتونو قربانیان دي؛ ډیرۍ اوسیدونکی یې په وژونکې بیوزلۍ کې ژوند کوی او په ډیریو سیمو کې د پوهنې او روزنې له لومړنیو آسانتیاو بی‌برخې دي.

په غزني، فراه، فاریاب، سرپل، ننګرهار، تخار او د هیواد په هر ګوټ کی روانه جګړه او جنایت ددې ویجاړۍ ښکاره نښې دي چې د ولس د دښمنانو له لوری د هیوادوالو د وژلو لپاره هره شیبه ډیریږي.

وروسته د همبستګۍ ګوند یو تن غړي اشاره وکړه چې یواځې په شعار ورکولو او وینا سره نشو کولای د امان الله خان او زرګونو مشروطه‌غوښتونکو او د هیواد نورو شهیدانو لارې ته ادامه ورکړو. یوازې په سربښندنو او د هیواد او خلکو ګټو لپاره له شخصي ګټو څخه په تیریدو کولای شو توی شوو وینو ته درناوی وکړو او د هیواد خلاصون لپاره په دې سختو شرایطو کی کار وکړو. هغه وویل:

«چوپړ دولتونه چې دلته ښکته او پورته شوی او کیږي تل یې کوښښ کړی د ریښتینو اتلانو پر ځای، غله او جنایتکاران د اتلانو په نامه ونومي او زمونږ پر ولس یې راوتپي خو تاریخ ریښتیني اتلان په خپلو پاڼو کې ساتي. د نیواکګرو او ځناورو ټیکه‌دارانو په شړلو سره به زمونږ خلک آرامه ساه واخلي او هغه وخت کولای شو ووایو چې ملي او ولسي دولت لرو. دا کار یواځې هغه مهال شونی ده چې خلک سیاسي پوهه تر لاسه کړي او د یو ولسي او توریالي جوړښت په شاوخوا کې راټول شي.»

آغلې بلقیس روشن، د فراه ولایت پخوانۍ سناتورې هم په دې محفل کې ګډون کړی وو او وینا یې وکړه:

«تاریخ دا په ډاګه کړې که چیری یو هیواد و غواړي د پرمختګ په لور لاړ شي او د نړۍ په کچه اعتبار ترلاسه کړي په لومړي ګام کې باید خپلواکي ولري. زمونږ د هیواد پرمختګ‌غوښتونکي شاه امان الله دغه ټکی درک کړی وو. نن د عبدالله او غني په څیر چوپړان ویاړکوی چې د امریکا استازي جانکیري د هغوی لاسونه د افغانستان د واکمنانو په څیر اوچت کړي. نن زمونږ خلک د انګلیس دوران پرتله ډیر د ظلم لاندی دي، هغه وخت که یو هیواد لوټلو، نن له ۴۵ څخه زیات هیوادونه واکمني کوي او هر یو یې چوپړان او څارګر لري.... باید مونږ ټول د یو چتر لاندی سره یو شو او د نیواک او زبیښاک پر وړاندې مبارزه وکړو.»

په محفل کی د شعرونو دکلمه، د ورستیو ۵لسیزو تیاتر، وطنی موسیقی او سپورتي نندارې هم وې چې په ورستۍ برخه کی د ګډونوالو له لوری د ملی اتڼ په ترسره کولو پای ته ورسیده.

بنیادگرا و غیر بنیادگرایش
از استقلال وطن پاس
۲۸ اسد ۱۳۹۷
۱۹ اگست ۲۰۱۸
حزب همبستگی افغانستان
Solidarity Party of Afghanistan

با راندن اشغالگران و مزدوران
بنیادگرا و غیر بنیادگرا
از استقلال

گزارشونه

په کابل ښار کی د هیواد د خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو په ویاړ د شعارونو ځړول

د ۱۳۹۷ کال د زمري په ۲۶مه (۲۰۱۸ کال د اګست په ۱۷مه) د «افغانستان همبستګۍ ګوند» ځوانانو د هیواد د خپلواکۍ بیرته لاسته راوړلو په ویاړ د ښار په بیلابیلو سیمو کی پیغامونو په ځړولو د مشروطه‌غوښتونکو او د خپلواکۍ جګړې له اتلانو او په ځانګړې توګه له شاه امان الله خان څخه لمانځنه وکړه او د خپلواکۍ ارزښت او پردیو پر وړاندې د مبارزې پوهاوی یی ورکړ.

په شعارونو له شاه امان الله خان او د هغه آزادۍ‌غوښتونکو ملګرو څخه یادونه شوی وه، او خپلواکۍ غوښتنې او د پردیو پر وړاندې مبارزې لپاره خلک هڅول شوی وو. که څه هم د خپلواکۍ دغې پرتمینې ورځ لمانځلو لپاره دغه کار ډیر وړوکی دی خو بیا هم کولای شی چی ځوان نسل د خپلو نیکونو له قربانیو څخه چی د پردیو له ولکی د خلاصون په لاره کې ورکړي پوه کړي او هغوی اوسنۍ خطرناکې دندې ته چی د امریکا – ناتو بهرنۍ بلا او کورنیو تنظیمي، طالبي او داعشي چوپړانو څخه د هیواد ژغورلو لپاره یووالی او ورورولی ده، متوجه کړي.

یو شمیر شعارونه چی په ښار کې وځړول شول:

«باید د خپلو اولادونو او د هغوی راتلونکی نسلونو په زړونو کې د وطن‌دوستۍ او سربښندنې حس تولید کړو. ځکه کله چی له سره تیر شو هیڅکله خپلواکي زمونږ له لاسه نشی تللی» (د خپلواکۍ په نهم جشن کی د شاه امان الله خان وینا، ۱۳۰۶ کال د زمري ۲۶مه)

مړه دې وي نیواکګر، ژوندۍ دې وي خلپواکي!

په سرتاسري پاڅون سره د هیواد خپلواکي د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو څخه

ترلاسه کړو!

د خپلواکۍ ورځې لمانځل د امریکایی نیواکګرو په وتلو سره معنی پیدا کوی!

ژونـدی دې وي زمونـږ د هیـواد د خپلواکۍِ غوښـتونکو او آزادیِ غوښـتونکو شهیدانو یاد!

د خپلو نیکونو په څیر په خپلو وینو د هیواد یووالی وساتو!

«ملت عزیز من! من این لباس سربازی را از تن بیرون نمی‌کنم تا که لباس استقلال
را برای مادر وطن تهیه نسازم! من این شمشیر را در غلاف نمی‌کنم تا که غاصبان
حقوق ملتم را به جای خود ننشانم!»
شاه امان الله، قهرمان ملی عوده ما
حزب همبستگی افغانستان
info@hambastagi.org | hambastagi.org

تجلیل از روز استقلال کشور تنها با
بیرون شدن نیروهای اشغالگر
امریکایی میتواند معنی یابد!
حزب همبستگی افغانستان
hambastagi.org

کسب استقلال گام در راه ختم جنگ
و محنت و فاجعه در کشور ماست!
حزب همبستگی افغانستان

«باید بقلوب اولادهای خود و نسلهائیکه از آنها پیدا می‌شود حس
وطن‌دوستی و فداکاری را تولید کنیم. زیرا وقتیکه فداکار باشیم هیچ
وقت استقلال از دست ما نخواهد رفت»
حزب همبستگی افغانستان
info@hambastagi.org | hambastagi.org

یاد بود شایسته از
شاه امان الله خان قهرمان
زهرچشمی ست به بنیادگرایان!
حزب همبستگی افغانستان
info@hambastagi.org
hambastagi.org

با خیزش همگانی استقلال کشور را،
از دست اشغالگران و نوکران شان بستانیم!
حزب همبستگی افغانستان

کسب استقلال گام در راه ختم جنگ
و وحشت و فاجعه در کشورماست!
حزب همبستگی افغانستان
info@hambastagi.org
hambastagi.org

نه هشت، نه هفت
بیست و هشت!
بیست و هشت!

اعلامې

د افغانستان د نیواک ادامه: د جګړې، بنسټپالۍ، جنایت او ... ادامه

د امریکا او ناتو او لاسپوڅي دولت تر نیواک لاندې د افغانستان د خلکو بندیتوب ۱۷ کلن شو. نور نو غوڅ اکثریت افغانانو ته، پرته له هغو چې ډالرو او چوکۍ یې سترګې او وجدان وړوند کړی، په ډاګه شوی چې د امریکا پوځي یرغل، زمونږ هیواد او خلک یې لا ډیر د وینو او فساد او بدمرغۍ په ګودال کې ډوب کړي او د امپریالیستي هیوادونو د خطرناکو سیالیو په ډګر بدل شوی دی. امریکایي یرغلګرو او متحدانو یې د ښایسته شعارونو «دموکراسي»، «له ترهګرۍ سره جګړه»، «ښځو حقونه» او «بیا رغونې» تر نامه لاندې زمونږ پر ویرجن هیواد یرغل وکړ او د خپلو اوږد مهاله او اقتصادي ګټو په خاطر یې زمونږ له جګړې څخه ستړي خلک یې یوځل بیا د خپلو کرغیړنو سیاستونو ښکار کړل. د امریکا او ناتو ۱۷ کلن پوځي شتون، زمونږ د تاریخ تورې ورځې دي چې د زرګونو افغانانو ټول‌وژنو سربیره، خطرناکه ترهګر او بنسټپاله باندونو منځته راوړل، افغانستان د نړۍ په فاسدترین او مافیایي هیواد بدلیدل، د مخدره توکو تولید او قاچاق بې‌سارې وده، زمونږ د هیواد د ځمکې لاندې زیرمو لوټل، د پانګې او بیوزلۍ ترمنځ د واټن زیاتوالی، د هیواد اکثریت وګړو در په دري، پر ښځو ځناوریز ناتار او د هغوی له بدمرغیو څخه ناوړه ګټه اخیستل، په ډله‌یزه توګه د بیکاره ځوانانو تیښته او نور ناورینونه د هغې پایله ده.

څه موده وړاندې، کرزی دغه دریم شاه‌شجاع له حنیف اتمر او ددوی په څیر څو تنه نور هیوادپلورونکی لکه محقق، خلیلي، قانونی، ولی مسعود، منصور نادری، ضرار مقبل، زلمی رسول، سپنتا، هادی ارغندیوال، حامدګیلانی، وحیدالله سباوون، احدی، صادق مدبر، جرأت، قطب‌الدین هلال، عبدالله قرلق

او دین‌محمـد چې اوس بې‌صاحبه شـوی د صبغت‌الله مجـددي په کور کې راغونډ شوی ول او له امریکا سره د امنیتي تړون د بیاکتنې غوښتنه یی کوله. دغو خاینانو ته سپین‌سـترګي هیڅ حد نلري؛ کرغیړن وطن‌پلورونکي چې تر پرونه یې امریکا ته د افغانستان ارزانه پلورلو زاری کولې، کله چې د بادار مهرباني پرې کمه شي، په یوه ورځ کې قبله بدلوي او د بل په چوپړ کې کیږي.

مګر همدا سـپنتا نه وو چې له امریکا سـره یی د هیوادپلورنې سند متن جوړ کړ او د یو بیشـرمه مري په څیره هغه د خپل ژوندانه له لاسته راوړنو څخه شمیري؟؛ مجددي د خپل ټګ پلورنو په څیر د دغه شـرم‌لیک د لاسـلیک لویه جرګې په پای کـې، پـه ملنډیزه توګه اعلان وکړ که چیرې دغه سـند ژر لاسـلیک نشـي هیواد به پریږدي؛ اتمر چې په ځان‌پلورنه کې استاذ ده، ددغه سند لاسلیک داغ یی په خپله توره او شـرمونکې تاریخچه کې ورزیات کړ؛ کرزی او هغه تالي‌څټې چې د بی۵۲ په زور په ارګ کې ټکوهل شول یوه‌نیمه لسیزه د امریکا هر ساز ته ونڅیدل او د لویدیځ د شـیطاني کړنـلارو پلي کونکی ول، اوس د امریکا ضـد کانګې‌راوړونکو اکتو باندې شـاید څو تنه بیخبره او بلې‌ویونکي وغولوي خـو هیڅکله هغه خلک چې د بادار او چوپړانو د ناتار او کرغیړنتوب داغونه یی د هډوکو مازغو ته رسیدلي نشي غولولی.

د امریکا جګړه‌مار دولت د لوړپوړو چارواکو له خولې داسـې ګونګوسـې اوریدل کیږي چې په پام کې لري د افغانستان جګړې په خصوصي کولو سره روانې ټول‌وژنې تـه نور هـم زیاتوالی ورکړي. دغه وړاندیز پروسـېږکال د امریکا «نوی اسـتراتیژی» اعـلان پـه وخت کې د ایـرک پرنس، د «بلک واټر شـرکت» رییس له لوری وشـو. بدنامه او ګنګسټری شرکت چې په ځانګړي توګه په عراق کې یی په داسې ځناوریزو جنایتونو لاس پورې کړ چې پای کی اړ شـو له هغه هیواد څخه ووځي او خپل نوم بـدل کـړي. که څه هم د امریکا نیواکګرو ځواکونو پـه ۱۷ کلونو کې هڅه وکړه چې ډیـری کړنلارې او غیرانسـاني کړنـې یی بربنډې نشـي، بیا هم زمونـږ د خلکو پر وړاندې ځینې جنایتونه راڅرګند شول، خو د جګړې په خصوصي کولو سره به ددغو ځناورتوبونـو لمن پراخه او د ناامنۍ او ډیرو وژنو لامل به شـي. د جګړې خصوصي کول، یعنې د پیسو په بدل کې د ډیرو بیګناه انسانانو وژل.

تر هغې پورې چې افغانسـتان د امریکا تر پوځي او اقتصادي او سیاسـي نیواک لانـدی وي، ځناورې ډلې لکـه طالبان، داعش، جګړه‌ماران او نـور چوپړان به هم د یرغلګرو او د سـیمې سـیالانو له لوري تمویل او په وسـلو سـمبال شي چې طبعا د جګـړې او ترهګـرۍ څپه به نه یواځـې زمونږ په ویرجن هیـواد وي چې ګاونډي هیوادونه او ټوله سیمه به راونغاړي او لمن به یی ورځ تر بلې پراخیږي. د پاکستان،

ایران، عربستان او نورو کرغیړنو هیوادونو خونړیو لاسونو پرې کولو لپاره مبارزه هم یواځې او یواځې هغه وخت شونی ده چې د خپلواکۍ لپاره مبارزه وشي.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» په دې باور ده چې هیڅ بیرونی ځواک د سولې او نیکمرغۍ پیغام‌راوړونکی نشی کیدلی، په ځانګړې توګه د امریکا دولت چې تاریخ یې له وژنو او ویجاړۍ او لوټ او ناتار سره غوټه ده او چیرته چې یې پښه ایښې ده له بدمرغۍ پرته بل څه یې نه لرل.

په ولسي پوهې او چمتوکولو سره باید د بنسټپالو او غیر بنسټپالو چوپړانو او د هغوی نیواکګرو بادارانو پر وړاندې په نه تسلیمیدونکي ځواک بدل شو! یواځې یو خپلواکۍ‌غوښتونکی او دموکراسي‌غوښتونکی غورځنګ چې ولسي پایه ولري، کولای شي افغانستان له دغه روان دوزخ څخه وژغوري او بس.

د افغانستان همبستګۍ ګوند

۱۳۹۷ کال د تلې ۱۵مه – ۲۰۱۸ کال د اکتوبر ۷مه

یو شیاد د سولې‌په نامه

لیکونکی: سوزن رَک | ژباړونکی: سمیر

فوټبال ملی لوبډلې د انجونو په وړاندې د شورای‌نظاری کرام‌الدین کریم بی‌ناموسي

هغـه مهال چـې د نظار شـورای کرام‌الدیـن کریم د فیفـا پـه غونډه کـې د ډاڼې اخیسـتلو پرمهال په فارسي خبرې وکړې، یو ډله تاجکانو نارې او سورې را پورته کړې چـې د لومړي ځـل لپاره په نړیواله غونډه کې په فارسی ژبه خبرې کیږي. آیا نن ورځ دومره وجدان لري چې د شـرم خوله یې په تندی ښـکاره شی او ووایی چې د دغه ډول کرغیړنې خولې څخه د فارسی خوږې ژبې اوریدلو څخه د شرم احساس کوي؟

په تیره کې د کرام‌الدین کریم، د «افغانسـتان فوټبال فدراسـیون» رییس هغه سـوایي چـې د رائ په بدل کې د «آسـیا فوټبال فدارسـیون» رییـس څخه د بډې اخیسـې وې رسـنیو ته درز کړی وه. خو څه موده وړاندې خالده پوپلزی، د ښځو د فوټبال ملې لوبډلې پخوانې غړې، د فوټبال ملی ټیم یو شمیر انجونو سره د هغه له ناوړه چلند او جنسـی تیري څخه پرده پورته کړه، دغه کرغیړن او خاین سـړی چې په خپل ټول ژوند یی یو پټاټې هم په پښـه ندی وهلی، د شـورای‌نظار غړی و او یو وخت د پنجشیر والی او وروسته د فهیم قسیم تر مشرتابه لاندې د دفاع په وزارت کې لوړ مقام درلود، د خپل کرغیړن جوړښت په ځواک د فوټبال فدراسیون ریاست په مقام باندې وټومبل شـو، د بهاره حسـینی په واسطه جوړ شوی «افغانې انجونې شـوټ کولې شـي» مستند فلم کې ګورو چې دغه ناولی انسـان پاکستان ته د یوی لوبـې لپاره د فوټبال کونکو انجونو سـفر پر مهال پر هغوی باندی غوسـه دی چې ولی یی خپل ټیکري په سمه توګه په سر کړی نه دي، دا ځل د ګاردین» ورځپاڼې د ۲۰۱۸ کال د دسـامبر پر ۲۷ نیټه د میرمن سـوزن رَک په قلم باندې د دغه بدنومې ټوپکمـار بی‌ناموسـیو په اړوند یو هر اړخیز راپور خپـور کړ چې د هغې د لنډیز ژباړه

لاندې راځي:

د افغانستان فوټبال فدراسیون رییس له خوا د ناوړچلند قضیه: «ټول ځای وینو نیولی وو»

منبع: «ګاردین» ورځپاڼه ، ۲۷ دسامبر ۲۰۱۸

آیا په حامد کرزی او د هغه لاسپوڅی سپنتا کې لږ زره وجدان هم پاتې دی چې دغه کرغیړن، بې‌شرمه انسان ته د مړال ورکول څخه پښیمانه شي؟

د افغانستان ملی ټیم ښځینه لوبغاړو د کرام‌الدین کریم د هیواد فوټبال فدراسیون رییس، له خوا جنسي او فزیکي ناوړه‌چلندونو تورونه یې د «ګاردین» سره په مفصل ډول شریک کړی دي چې هغوی له دې څخه ځوریدلی دي.

د افغانستان ملی ټیم ښځینه لوبغاړو د کرام‌الدین کریم د هیواد فوټبال فدراسیون رییس، له خوا جنسي او فزیکي ناوړه‌چلندونو تورونه یې د «ګاردین» سره په مفصل ډول شریک کړی دي چې هغوی له دې څخه ځوریدلی دي.

لوبغاړې چې خپلو کورنیو ته د ګواښ له ویرې څخه د خپل نوم په نه ښودلو سره خبرو کولو ته چمتو دي، ادعا کوي چې د کریم له خوا هغوی ته د جدي جنسي او فزیکي تیري څخه نیولی تر د هغوی کورنۍ ګواښ او ځورونه ګډون لري.

له هغو څخه یو تن یې وایې چې کریم د ټوپک [میل] زما په سر کیښود او مخ یې را ته په سوک وواهه د پټې خوب خونې په منځ کې چې یوازې د هغه دفتر له لارې ورته لاس رسی کیږی، هغه یې د جنسي تیري لاندې ونیوله او وروسته یې وګواښله که چیرې دې له رسنیو سره په دې اړه خبرې وکړې، هغه او کورنۍ به یې ووژني.

یو بله یې ادعا کوي، وروسته له هغه څخه چې نوموړې د [کریم] له جنسي برید څخه د خپل ځان د ژغورلو لپاره تیښته وکړه، کریم هغه د خپلو هم‌ټیمیانو سترګو

په وړاندی د تمرین په لړ کې وګوابسله او وویل ژبه به یې پرې کړي او بل وار یې د هغې د جامو ویستلو کوښښ وکړ.

دریمه لوبغاړې ادعا کوي چې کریم هڅه وکړه د نوموړی غاړه او شونډې ښکول کړي او کله چې هغې له خونې څخه تیښته وکړه، د ملی ټیم څخه ویستل شوه او پر هغې تور پوری شو چې همجنس‌بازه ښځه ده. د لوبغاړو څخه یوه بله هم ادعا کوي چې کریم نارې پورته کړي دي چې هغه ښځه همجنس‌بازه ده.

ټولې ادعاوی «ګاردین» کریم ته ولیږلی چې هغه ځواب ورکولو ته چمتو شوی نه دی.

لــه لوبغاړو څخه یوه وایي وروســته له هغــې چې د کریم دفتر ته ولاړم او د خپل ټرانســپورټی لګښت لپاره می د پیســو غوښتنه وکړه برید راباندې وشو. «د مرستې غوښتونکې شوم. هڅه یی وکړ چې خوا ته می راغی او وویل: "غواړم چې تا ته نږدی شم او بدن دی ووینم."»

میرمن خالده پوپلزی لومړنې میړانه ښځه وه چې د تیری‌کونکې کرام‌الدین کریم له ځناورتوب څخه یې پرده پورته کړه. پر نورو ښځینه او نارینه لوبغاړو هم ده چې له دې څخه لوی ګامونه پورته کړي او دا ډول جنایات بربنډ، خاینان او تیري‌کونکي رسوا کړي.

«کوښښ مې وکړ چې له حرکت څخه یی سترګې پټی کړم او له هغه سره مودبانه چلند ولرم. ومی ویل: "اوګوره، زه د خپل تګ او راتګ لګښــت لپاره پیســو ته اړتیا لرم، خپله پیســي نه لرم. آیا مرســته کولی شې؟ که چیرې یې نه شې کولی، پریږده چې لاړه شــم." ما ته یی وویل چې مرســته راسره کوي او باید صبر وکړم. ومی ویل چې غواړم کور ته لاړه شم. هغه وویل: "خفه کیږه مه، تا ته پیسې درکوم."»

«رییــس راتــه وویل چې ما تر بلې خونې پوری تعقیب کړه. نو په دغه اســاس له هغه ســره دننه ولاړم. فکر می کاوه چې له ما ســره مرســته کوي. هغه مې وروستې خونــې پــوری تعقیب کړ. بلی خونې ته ولاړ او د هغې خونې تر څنګ نوره ډیره تیاره

وه. د هغې خونې په منځ کې یوه دروازه وه. خو تاسو هغه دروازه لیدلی نه شوه؛ د دیوال په شان وه او ډیره ستونزمنه وه چې پوه شی دروازه ده. دروازه خلاصه وه. هغه د یو هوټل خونې ته ورته وه، د خوب یو تخت او نور شیان او یو تشناب. ما ته یی وویل چې دننه لاړه شم. دننه لاړم او هغه مې شا ته راپسې دروازه یی بنده کړه.

وویل چې پر تخت کینم. ویریدلې وم او رپیدلم. هغه وویل: "نن ورځ غواړم وپوهیږم چې ستا د جامو په منځ کې څه شی دي." هغه ته می وویل: "ما یوازې پریږده، غواړم چې کور ته ولاړه شم." له خپل ځای پورته شوم او ومی ویل چې غواړم کور ته ولاړه شم او هغه وویل: "هر څومره چې غواړی چیغې ووهی ووهه، څوک نشته چې غږ دې واوري، څوک دې غږ نه اوري."

وروسته یی زه تخت لور راښکلم. بیا ځلې راپورته شوم او ومی ویل: "ما پریږده، زه یوازې د مرستې ترلاسه کولو لپاره راغلې وم، نور یې نه غواړم، خیر دی ما پریږده، چې لاړه شم."

هغه ما ته وویل غواړم پوه شم چې آیا همجنس‌بازه یې او که نه ـ ځکه چې وخت د انجونو سره وم ولی اندامونه می د یو هلک په څیر وو.

له خپل ځای څخه پورته شوم او هڅه مې وکړه د هغه مخه ونیسم، خو هغه زما مخ په سوک وواهه. پر تخت راولیدلم. کوښښ مې وکړ چې پاڅیږم او دروازې لور ته لاړه شم، خو له دې چې دروازه یوازی د نوموړی ګوتې پر نښان خلاصیدله، شونې نه وه چې دروازه د هغه ګوتې نښان څخه پرته خلاصه کړم. له دی مخې بهر ته وتلې نه شوم، هغه په سوکانو زما مخ او خوله ووهله، وینې مې له خولې او پوزې څخه روانې وې. زما په وهلو یې لاس پوری کړ، د تخت پر مخ راولیدلم او هر څه تور شول...

کله چې په هوښ راغلم، نور مې نو جامې په ځان کې نه وې او وینه په هر ځاي کې وه. رپیدلم او نه پوهیدلم چې پر ما څه شوی دي. تخت په وینو ککړ شوی وو او وینې مې له خولې، پوزې او تناسلې آلې څخه روانې وې. تشناب ته ولاړم. مخ مې پریمنځه او جامې مې واغوستلی. د خونې منځ ته ولاړم او ومې ویل: "په همدی حالت کې ځم او رسنیو ته وایم چې پر ما څه شوی دي."

هغه خپل ټوپک راویست او زما په سر یې کیښود او وویل: "وګوره چې له تا سره مې څه وکړل؟ پر سر دی ولم چې ماغزه دی خواره واره شي. او همدا کار دې له کورنۍ سره هم کولی شم. که چیری غواړی چې کورنۍ دی خوندي پاتې شي، باید چوپه خوله پاتې شې."

وروسته یی پیسی زما په مخ وویشتلی او وویل چې هغه واخله او له دی ځایه

څخه ووځه. هغه وویل چې نه غواړم څیره دی ووینم. دروازه یې خلاصه کړه او زه بهر شوم.»

دی جینې چې نه شو کولی خپلې کورنۍ ته ووایی چې پر هغې څه تیر شوی دي، د سپورټې ټپ پلمه یې جوړه کړه. «ښه وضعیت مې نه درلود. په ټیم کې مې د خپلو ملګرو په وسیله وموندل چې رییس خبرونه خپاره کړي دي چې زه یوه همجنس‌بازه یم او زه یې له نجلۍ سره نیولې یم او په دغه لامل یې زه له ټیم څخه ویستلم. دا راته ډیر اغیزمنه او ګواښونکې وه.»

د دی مسلې بربنډولو پریګړه بی‌ګواښه نه ده.

«پوهیږم چې کورنۍ مې په ګواښ کې ده او کله چې پراخه بربنډول ترسره شی لا پسی به د ګواښ لاندی ونیول شی. خو غواړم چې پاڅیږم او د نورو انجونو راتلونکې لپاره خبرې وکړم. غواړم چې انجونې امن محیط ولري.»

هغه وایی چې د کریم چلند په اړوند د ټیم په منځ او بهر کې ټول پوهیږی.

«د هغه چلند د ښځو فوټبال ټیم غړو لپاره منل شوی وو.»

ولی چارواکو ته شکایت نه کیده؟ «هغه د دولت او نظام په منځ کې پرنفوذه سړی دی.» نوموړی جینې دا وایی په ۲۰۰۴ کال کې د «افغانستان فوټبال فدراسیون» ریاست په غاړه اخیستلو څخه مخکې، د پنجشیر والی او د دفاع په وزارت کې د ځمکنیو ځواکونو لوی درستیز وو. «هیچا نه شو کولی چې د هغه په وړاندې ودریږی ځکه چې هغه یو ځواکمن سړی دی... نن ورځ انجونې نه شی کولی خپل غږ پورته کړی ځکه چې ویره لری. شونې ده چې ووژل شي.»

دویمه لوبغاړې وایې چې د فدراسیون غړو څخه یو تن له ما څخه وغوښتل چې د کریم دفتر ته ولاړه شم. هغه وایې: «د نوموړی اخلاقو په اړوند په هیڅ نه پوهیدلم.» دغه جینې دعوا کوي چې کریم د هغې تر څنګ پر کوچ کیناست. «له ما سره یې په خندا او ټوکو پیل وکړ، وروسته یې زما بدن باندې لاس وهل پیل کړ او هڅه یې وکړه چې ما ښکوله کړی. ومې ژړل، ویریدلې وم ټول بدن مې وحشت نیولی وو. کوښښ مې وکړ چې هغه له خپل ځان څخه لری کړم.»

هغه وایې چې نوموړې چیغې کړې او پر [کریم] باندې برید وکړ خو د هغه له منګولو څخه یې د تیښتې توان نه درلود. هغه څرګندوی چې د یوې میاشتې لپاره پټه شوه. «ډیره کمزورې شوی وم او له چا سره مې خپله کیسه شریکولی نه شوه. همدارنګه، د فدراسیون او په ځانګړې توګه خپله رییس له خوا څخه مې ټلیفونې اړیکې تر لاسه کولې چې زه یې بیرته ګرځیدلو لپاره اړباستلم، ځکه چې د هغه شخصیت ته زیان لامل کیدلم.»

هغه بیرته راځې، خو وایې چې د هغې بده ورځ پاي ته نه ده رسیدلې.

«په اوږده‌کرسۍ کې د ټیم پاتو غړو تـه په تمه وم. هغه پـه امنیتي کامرو کې لیدلې وه چې په هغه ځاي کې ناسـته یم. ما ته یې په زنګ وهلو پیل وکړ. غبرګون مې ونه ښود، له دی کبله خپله بهر راغی او ما ته یې وویل چې باید دننه ورشم. اړه وم چې هغه پسی لاړه شم، بل کار مې نه شو کولی. له څلورو دروازو څخه تیره شوم ـ خپله مخکې تللی وو او په تلیفون یې ما ته لارښونه وکړه چې چیرته لاړه شم.»

«د څلور دروازو څخه د تیریدلو وروسته د خوب یوی خونې ته ورسیدلم. پنځه ـ ستوری هوټل ته پاتې کیده، یو ښیښـه، قیمتي فرنیچر، د خوب تخت، ښـځینه توکې، عطرونه او ځینې شـیانو په الماری کې شتون درلود. کله چې هلته ورسیدلم او هغه څیزونه مې ولیدل، هغه کیسې چې ما ته ویل شوی وې په یاد راغلی... ډیره ویریدلې وم او په ژړا مې لاس پوری کړ، فکر مې کاو چې د ژوند پای مې ده.

رییـس لغـړ وه او د خوب په تخت زما په تمه وو. څه وخت چې مې ژړا وکړه، له خپل ځایه راپورته شو او زما لور ته یې رامنډه کړه او زه یې په غیږکې کلکه ونیولم. کوښښ یی کاو چې زما څادر او جامې لری کړی. هغه په ما برید وکړ او جامې راته وشـکولی. زه تښـتیدلم او چیغې مې وهلی او مقاومت مـې کاو. ډیره نیکمرغه وم. هغه ته زنګ راغی؛ په چیغو مې لاس پوری کړ، هغه ما ته ټیله راکړ او کوښـښ یی وکړ چې ما غلی کړي خو ما چیغو وهلو ته ادامه ورکړه، کله چې یې دروازه خلاصه کړه، وتښتیدلم.»

دریمـه لوبغـاړې دعـوا کوی څـه وخت چې د کریـم دفتر ته «د هغه لاسـلیک اخیستلو» لپاره تللی وم، د هغه ځناورتوب پیل شو.

«هغه مې له خپل ځان څخه لری کاو او هغه هڅه کوله چې زما غاړه او شونډې ښکول کړی. هغه ته مې ویل چې باآدبه اوسه ځکه چې د هغه عمر زما د نیکه سره یوشان وو، څه رنګه کولی شي دا کار وکړی؟ هغه ماته وویل نه پوهیږی چې ولی دا ډول عجیبه چلند له هغه سره کوم او دا چې بهر له هغه سره دوستانه چلند لرم.»

«ومې ویل چې هغه مې یوازې د یو ملګری په څیر فکر کاوه. هغه یو ډیر ټولنیز انسـان دی خو هغه راته په ځواب کې وویل: "زموږ ملګرتیا یوازې یوازې د جنسـې اړیکـې رامنځتـه کیدلو لامل کیږی." ما وویل: "د دا ډول خبرو اوریدلو څخه کرکه لرم. پریږده چې لاړه شم." هغه مې له ځانه لری کړ او له خونې څخه وتښتیدلم.

لومـړی کار یـی چـې له ما سـره وکړ، دا وو چـې زه یی د ملی ټیـم څخه چې د تمرین لپاره خارج ته تللو په حالت کې وو، ویسـتلم. وروسـته یې د ټولو پر وړاندې ما ته سپکې سپوری وویلې او زه یې په همجنس‌بازۍ باندې تورنه کړم او فدراسیون

څخه يې ويستلم.»

هغه دعوا کوی چې د لفظی سپکاوی قربانی ګواه نوری هم دی:

«هغې جينې ژړل او ټولو ليدله چې هغه [کرام‌الدين کريم] هغې ته سپکاوی کاوه.»

د افريقا د طبيعي زيرمو لوټل!

| کارتونيست: Kasım Özkan



د جنايتکارانو بخښنه!

ايلهو دوير برازيلي کاتونيست، دغه اثر د «د کرغيړنې وسلې ورکړې» تر سرليک لاندې د روندا د عام‌وژنې په تړاو د «سولې او پخلاينې» برنامې د وړانديز لپاره انځور کړی وو.

«د افغانستان د همبستګی ګوند» خپرونې تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

کابل

نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان
جوار پارک تیمور شاهی

شرکت کتاب شاه محمد
چهارراهی صدارت

کتاب فروشی مقدم
مارکیت جوی شیر کابل

کتابخانه وحدت
نیاز بیک، دکان حاجی

کتاب فروشی معلم محمد وحید
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

کتاب فروشی رفیع الله
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

هرات

کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

بلخ

کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی
کتاب فروشی عبدالرازق انصاری
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

کتاب فروشی فیروز
مقابل نشنل بانک پاکستان

تخار

فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

کندز

قرطاسیه فروشی محمد هارون
جاده ولایت

بامیان

کتاب‌فروشی محمد ظاهر حیدری،
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

غزنی

کتاب و قرطاسیه فروشی توحید
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

کتاب فروشی فرهنگ ۱
جوار کتابخانه عامه

کتاب فروشی فرهنگ ۲
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

ننگرهار

کتابفروشی سیار
ولسوالی خیوه

مازیگر کتابپلورخی
اسحاقزی مارکیټ، جلال‌آباد

کنر

کتابفروشی احمد ظاهر
چغانسرای، سرک قومندانی

فراه

کتابفروشی عزیزی
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

بغلان

کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

بدخشان

کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

نورستان

عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

دردیدلو هیوادوالو،

کـه د خپلـواک، آزاد او دموکـرات افغانســتان غوښــتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړی او بی‌وزلو خلکو د هوساینې هیله په زړه کی لری؛ که غواړی د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندی خپله دنده ترســره کړی، نو د «افغانســتان د همبستګی ګوند» سره یوځای شی او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کی خپرې کړی.

پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: info@hambastagi.org
ویب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فیسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تویتر: twitter.com/solidarity22
یوټیوب: youtube.com/AfghanSolidarity

د «افغانستان د همبستګی ګوند» د خپلو کړنو مخکی وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرستو ته اړتیا لری. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره هم‌غږي شی:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

Hambastagi (Solidarity)
A Publication of the Solidarity Party of Afghanistan
13
PASHTO

انجنیر سیدکمال خان،
د افغانستان آزادی غوښتونکې او اتل بچی

۱۲ مخ

قیمت: ۲۵ افغانی